

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په قتل پښېمانه يم

ليکوال :

محمد نعمان دوست

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم: په قتل پښېمانه یم

ليکوال: محمد نعمان دوست

کمپوز: ليکوال

ډيزاين: رحمن الله بهير

د پښتې انځورګر: حسيب الله رايان

انلاين چاري: مختار احمد احسان - د لراوبر ډاټ کام برېښنايي کتابتون

www.Larawbar.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

**رنځور لقمان ته، چې د ځوانيمرګ ورور غمونو يې له سترګو د ماشومتوب خواږه خوبونه لوټلي دي .**

**دوست**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کتاب لړليک

قران شريف
اولاد
عدل
افتتاح
جرم..
حضرت يوسف ع
اللهاکبر،اشهدان لااله الاالله
گناه گار
مونږ لکه سمندري حيوانات
لوحو ته اړتيا
جنت
ثومره سخت ،ثومره اسانه
نوي کالي
د اختر تحفه
ما ولې له ښکاره توبه وکړه
زما هديره
تروريستان
د نربچيان
د عمر اوسط
تپي نجلۍ
د مور نصيحت
قاتله
په قتل پښېمانه يم
وروستۍ خبرې
د اختر کالي
يواځې
يه بچه کس کاهی
ماشومان
له ورېځې وېره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وعظ
د خپلواکۍ جشن
مور
د بهرنیانو د راتګ یوه شپه
عجیبه مخلوق
هاوان
لقمان رنځور شو
مدافعان
شعار
مبارزه
ماشوم بې پلاره شو
کندهاري
عجیبه قضاوت
د خوسي سر
د آبادۍ وېره
چرګان
خاموش کلی
د مشر وعده
شوقي خود کشي
زمورږ د کور کوترې
د ماشوم کرامت
د برکتونو میاشت
خشونت
سپی
د ماشومې ژړا
د ایبټ اباد په غره کې
کسات
پښتنو سره یاد ګاري عکسونه واخلئ
سپي ښښنه غوښته
مبارکي
بیټ نیکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پیل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قرآن شریف

سلیم په کوچنیو لاسونو د کتابونو له بکسې قران پاک راوویست، څو ځلې یې ښکل کړ او بیا یې د مېز پر سر کېښود.

مور یې پرې غږ کړ:

زویه !

ستا خو نن د قران شریف ازموینه ده،قربان یې له نامه شم، ولې دې له بکسې راوویست ؟

هغه مخ ور واړو:

مورې !ته رښتیا وایې، خو زه نور قران کریم ځان سره نه وړم.

هغې پرې سترګې راوویستې: ځوانیمرګ شې ، ولې ؟

د سلیم ، ستونی ډک شو ، په ژړغوني انداز یې وویل:

مورې!
مورې ته ملاصاحب ویلي چې، د قرانکریم باید ډېر قدر وشي، بېځایه

غورځول یې لویه ګناه ده.

ا ، بله ورځ چې ښار کې چاودنه وشوه، زما دوه ملګري په کې ټوټه – ټوټه شول، د هغوی قران شریفونه پاڼې – پاڼې په سپېرو خاورو پراته وو . سلیم له کوټې ووت، مور یې لړزې ونیوله، کله یې د مېز پر سر قرانکریم ته کتل او کله یې کړې ښېرا ( ځوانیمرګ شې ! ) ذهن ته تله راتله .

۱۳۸۵، د لیندۍ ۲۴ مه

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اولاد

ټولې ميرمنې ترې راتاوې وې، چا په ژېړ کتوري کې چې آيت کرسي پرې ليکل شوې وه او به ورکولې، چا پرې ياد سورتونه چوفول او چا پټې – پټې اوښکې تويولې .

خو د کمينې دردونه هماغه شان مخ په ډېرېدو و .

يوې غږ کړ: له درې شپو ورځو راهيسې يې سترګې نه دي پټې کړي، په يوه چيغه ده . مورې ويل، کور کې به پرې خدای ورحمېږي خو دا سې ونه شوه، بايد د ډاکټر غم وخورو .

کمينه بيا کټ کې وا وښته او له درده يې پر بازو خوله خښه کړه.

شېبه وروسته غلې شوه، په مخامخ ځړېدلي عکس يې سترګې خښې کړې:

زويه !

په تا مې له دې ډېرې سختې تېرې کړې وې، زما او د مرګ ترمنځ هيڅ نه و.

خو چې دنيا ته راغلې، هرڅه مې هېر شول، ستا هر پل اخيستو راته نوي اميدونه را کول.

يو دم يې مخ سور شو ، سترګو کې يې اوښکې ښکته او پورته وګرځېدې ، شونډې يې ژر- ژر رپېدلې .

زويه !

ته خو لا زلمی شو ی هم نه وې چې... يو چيغه يې له خولې ووته او له کټه راپرېوته .

را ټولې ميرمنې حيرانې وې، په څه خوارۍ يې کټ ته پورته کړه، يو ناڅاپه بيا نيغه کېناسته، را غونډو شوو ښځو ته يې مخ را واړو :

نه ، ډاکټر را نه ولئ، پرېږدئ چې مړه شم، زه د بل اولاد جنازه نه شم ليدلی، هغه هم راته ولي، وژني يې، دلته جنګ دی، جنګ ککرې خوري....

۱۳۸۹، کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عدل

له خو اونيو راهيسې د محکمو په دروازو ګرځېدم. عريضه مې لاس کې وشړېده.

چې د هرقاضي صاحب ترڅنګ به مې د ترازو عکس او د عدل په اړه قراني آيتونه وليدل، خوشحاله به شوم .

ځان سره به مې ويل: زه په حقه يم. خو دا چې ژر موضوع نه فيصله کېږي علت به يې داوي چې، ښه عدالت تامين شي .

نن بيا د محکمې خواته ولاړ وم. يو تن، چې شايد له پخوا يې ځارلم راباندې غږ کړ:

وروره ! عريضه خو دې وشړېده، خو که څپلۍ دې هم وشړېږي حق به دې ترلاسه نه کړې .

ما هماغه شان ور ته د شک په سترګه کتل، چې هغه خبره پسې وغځوله: په جيب لاس وواهه ! په تشو ګرځېدلو نه شل کېږي .

اول خو په خبره ونه رسېدم، خو ورسته چې پوه شوم د هغه په مرسته مې قاضي صيب په ۵۰۰۰ راضي کړ .

احکام يې راکړل، خو کاغذونه يې رانه قيد کړل او وعده وشوه چې، سبا به پيسې سپارم او اسناد به ترلاسه کوم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبا له وعدې سره سم ورغلم، په مېز مې ورته د هغو پيسو پاکټ کېښود چې، د لاس په تڼاکو مې پاکستان کې ګټلې وې.

قاضي صاحب، عينکو لاندې موسک شو، خو چې پاکټ يې خلاص کړ او په کلدارو يې سترګې ولګېدې ، په تندي کې يې کرښې ورېږې ليکې پيدا شوې (*) ، عينکې يې لرې کړې او بيا يې خوله پرانيسته :

افسوس !دا وطن به خاورې آباد شي، په خپلو افغانيو شرمېږئ!

تا نه دې اورېدلي چې، اطاعت د اولو الامرو واجب دی؟ څو ځلې اعلان شوی چې، معامله دې په افغانيو کېږي او تاسې بدبخته ولس ... !

هغه پسې اوږده کړه : يو شور جوړ شوی، خوله په خوله همدا ناره ده چې په محکمو کې فساد دی، خو د خلکو د فساد او ناقانونۍ په اړه هيڅوک څه نه وايي .

قاضي صاحب ، هماغه شان لګياوو خو ما په ديوالونو هغو ليکلو ايتونو او احاديثو ته کتل چې، د عدالت او بډو اخيستلو په اړه ليکل شوي وو .

۱۳۸۸،کابل

* دا مهال ،له کلدارو څخه د افغانيو ارزښت لوړ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# افتتاح

ليکه خلک ولاړ وو، يو تن چې نيکتايي په غاړه کې ټالۍ وهلې، له چاکليټو او شيرينيو ډک پتنوس په لاس کې نيولی و او مخکې وروسته کېده .

مخامخ يوه سره پټۍ بنده وه، رييس صاحب چې تورې عينکې يې تندي ته پورته کړې وې، تازه يې له خولې سګرټ وغورځو او له نورو رامخکې شو :

حاضرينو !

هميشه د موسسو او انجوګانو په فعاليتونو نيوکې کېږي، يو شور ګډ دی چې انجوګانو وطن لوټ کړ، د ملت په نوم راغلې پيسې يې وخوړې او ...

هغه، چې په سترګو کې يې د غرور خندا ښکاره شوه، مخامخ پټۍ ته يې لاس ونيو :

نن موږ د يوه داسې پول پرانيسته کوو، چې زموږ د کارکونکيو په ښېسارو هلو ځلو جوړ شوی دی. په دغه شان پُلونو خامخا په زرګونو ډالر لګېږي .

رييس صاحب، څنګ ته ولاړ کس نه لويه قيچي راواخيسته، راټول کسان يې پټۍ ته نږدې راوبلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قيچي په پټۍ خوله ښخه کړه، پرې شوه او بيا داسې لاسونه وپړکېدل لکه د ۲۱ مې پېړۍ له کومې نوې اختراع چې پرده پورته شوې وي .

يو ولاړ سپين ږيري غږ کړ:

رييس صاحب !

په دې پول به يو اځې موږ تګ راتګ کوو ، که د موټرو زور هم لري؟

رييس، په غرور وويل: ټانک خو پرې تېر کړئ !او بيا يې له همدې خبرې سره خپل موټروان ته اشاره وکړه.

کروزين ورو-ورو را روان شو ، غره هار يې د لاسونو په پړکا کې ورک و ، چې کله يې مخکيني ټايرونه پله ته ورسېدل پول ولړزېد ، د سمټو ټوټې او کاڼي ترې را ولوېدل، موټروان ترې خبز کړ .

راغلو کسانو لاسونه په سترګو کېښودل او رييس صاحب د سيند په څپو کې خپل موټر ته حيراني – حيرانې، کتلې.

۱۳۸۸،د وري څلورمه

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جرم

د یوه ملګري لیدو ته لاړم، په هټۍ کې یې څو نور کسان راټول وو ، هغه مې تر سترګو نه شو.

وه مې پوښتل: خپله دوکاندار چېرې دی؟

یوه وویل: هغه همدا څو شیبې وړاندې دولتي کسانو موټر ته واچو او له ځان سره یې یو وړ.

ژر مې وپوښتل: په کوم جرم؟

یوه ځواب راکړ: په کلدارو یې سودا پلورلې وه او خبره یې پسې نوره هم وغځوله:

هغوی همدا ویل چې قانون باید عملي شي، افغانۍ د افغانستان هویت دی، په خپل هویت شرم جرم دی.

موږ لا همدې خبرو کې وو ، چې ملګری مې راننوت.

په خندا مې ورته وویل: څومره په غور او فش یې وړی وې ، ماوې خدازده څو میاشتې به د تورو تنبو شاته یې، ته خو بېرته راغلې.

هغه ځواب راکړ: ماهم همداسې ګڼلې وه، خو ښه و، جیب کې مې کلدارې وې چې، ور مې کړې زړونه یې رحم شول.

۱۳۸۲، کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حضرت یوسف علیه السلام ته!

ای د خدای ج نیازبین پیغمبره! ای د خوبونو رښتینه تعبیر کونکیه!

تا چې د مصر په زندان کې د کوم بندي خوب ته تعبیر کړی و ، رښتیا شو .

تا د هغه زنداني سړي خوب ته چې، پر سر یې د ډوډۍ شکور و او مرغانو ترې تښتولې وې، تعبیر وکړ چې، عمر یې ختم دی او په دار به وځړول شي، رښتیا هم همداسې وشو.

ای تر ټولو انسانانو حسینه!

موږ هم یوه رښتیني تعبیر ته اړتیا لرو ، زموږ له لاسونو هم خلک ډوډۍ تښتوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ په نوم راغلې د سوال پيسې د ځو جنابانو جيبونو ته ځي.

موږ په تنهاکو لاسونو ګټلې پيسې د دې لپاره ورکوو چې، په عريضه مو يو تش لاسليک وشي.

له موږ نه په هغو ادارو کې هم پيسې اخيستل کېږي، د کومو پر ديوالونو چې (و اذا حکمتم بين الناس ان تحکموا بالعدل... الايه ) ليکل شوي وي.

خو ای د خدای ج نيازبين پېغمبره!

دا خوب نه دی

دا هر څه دلته په ويښه کېږي.

د دې تعبير له چا وغواړو ؟

موږ په داسې زمانه کې ژوند کوو چې، په ډېرو رښتينو يې هم باور نشو کولی.

خو که موږ ستا په تعبير قياس وکړو نو دوه نتيجو ته رسېږو:

يا زموږ د ولس عمر ختم دی او يا د دې نظام!

۱۳۸۸د غويي ۲۸مه

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله اکبر ، اشهد ان لا اله الاالله و...

یو ناڅاپه له یوې قوي چاودنې سره ، غېږ – غېږ لنبې پورته شوې. موټر هوا ته جګ شو او بیا د سړک ترغاړې را پرېوت.

سمدستي له نږدې باغه څو تنه په بېړه را ووتل ، د ماشیندارو شپېلۍ یې موټر ته سیخ کړې .

وسلوالو مخ په موټر منډې وهلې، د ټوپکو له شپېلیو یې سور اور بادېده او له هر ډز سره یې د ( الله اکبر ) شعارونه ورکول.

له جوماته مو ورمنډه کړه، د پولیسو شین رنجر موټر غلبیل – غلبیل شوی و ، چلونکي یې پر اشترنګ سر اېښې و او یو بل، موټر نه لاندې په وینو کې لاس او پښې وهلې .

د هغه شونډې ورو –ورو خوځېدلې ، خو د غږ پر ځای ترې وینه راوتله .

سر مو ورنږدې کړ، خو یوازې د ( اشهد ان لا اله الاالله .... ) مبارکه کلمه مو تر نیمایي واورېده او نور یې روح والوت.

د ۱۳۸۲ لمریز کال د تلې ۱۲ - مه

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګناهګار

څو ځلې یې سپین سان په لاس کې واړو را واړو او بیا له دوکانه ووت. شیبه وروسته بېرته راننوت.

کله یې جیب ته کتلې او کله یې په سپېرو ګوتو، تو ته لاس کې اړوله را اړوله.

چې څنګه یې را پام شو، را نږدې شو، یوه شیبه یې زما پر سر، پاچ پټکي ته وکتل او بیا یې وویل:

زویه !ملا یې ؟

ما ویل نه بابا ، ملا نه یم، خو څه ناڅه کتابونه مې لوستي ، خیریت خو به وي ؟

په موټې کې یې پیسې نیولې وې، لاس یې اوار رپېده، ښه رانږې دې شو:

زویه!

دوه بچیان یې راته غبرګ وژلي ، خو ماسره دومره پیسې نه شته چې پوره کفنونه پرې واخلم، که کفن لنډ شي ګناه ګار خو به نه شم ؟

د۱۳۸۷ د چنګاښ ۹مه

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مونږ لکه سمندري حيوانات

حيواناتو په ډېرې خوارۍ، يو خوا بل خوا حرکت کوو. يو دم به سمندر ته ونښوييدل، د اوبو په څپو کې به ورک شول، بچيانو به يې له وچې ورکتلې او له خوښۍ به يې سرونه خوځول.

خو ،يو نا څاپه له اوبو را وتل پيل شول، په څه خوارۍ وچې ته را پورته شول، هر يو د خپل بچي څنګ ته ودرېد او کوښښ يې کاوه چې پټ يې کړي.

حيران وم، ما ويل ولې د دوی د خوشحالۍ پر دنيا داسې ژر د وېرې وربځه خپره شوه؟ ولې ميندې خپلو بچيانو ته پرېشانه دي؟ او...

ګورم چې له لرې د کفتارو ( يو ډول ښکاري ژوي) يوه ډله د دوی خوا ته را روانه وه. د هغوی په هرګام نږدې کېدو ، د بحري مخلوق اند ېښنه زياتېدله، نا قراره ول. اخوا دېخوا يې مړې –مړې، غاړې اړولې را اړولې.

ښکاريان را ورسېدل، ژبې يې را ويستلې وې، له بحري حيواناتو ګرد تاوېدل.

يو دم يوه ټوپ کړ، يو تنکی بچی يې له څټه ونيو، د مور له خوا يې را کش کړ، نورو کفتارانو هم ورته بريدونه پيل کړل.

خو سمندري ژوي هماغه شان ځای په ځای ولاړ وو، سرونه يې خوځول او د ښکاريانو په پنجو کې يې د خپلو تنکيو بچيو وروستيو سلګيو ته کتلې.

شيبه وروسته د ډېرو ميندو غېږې خالي شوې او ورو-ورو بېرته سمندر ته تشې غېږې ښکته شول.

دا د نشنل جيوګرافيک چينل يوه په زړه پورې ټلويزيوني پروګرام و، شايد د ياد پروګرام چلوونکيو په ډېر زحمت چمتو کړی و.

شايد، هغوی د سمندر په غاړه ډېر انتظار کړی وي، ترڅو داسې صحنې فلمبرداري کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو که دوی زموږ کلي ته راشي، په يو ساعت کې دغه شان پروګرام جوړولی شي، دلته هم هره شيبه د ميندو له غېږو بچيان جلا کېږي، دلته هم ميندې د خپلو اولادونو د وروستيو سلګيو تماشا کوي.

دلته هم ډله ـ ډله ښکاريان ګرځي، يو ناڅاپه راټوپ کړي، د ميندو له غېږو د هغوی د زړونو قطرې جلا کړي او په دار يې وځړوي، کله د ټوپک ميله راټيټه کړي، د يو ځوان سينه غلبيل کړي او د مور مخ د خپل بچي په وينو سور کړي.

کله له هوا نه يو کور په نښه شي، په لمبو کې ورک شي او بيا ميندې په پلو کې د خپلو اولادونو هډونه راټولوي.

او کله....

زموږ ميندې لاسونه او پښې لري، خو لکه بحري ژوي ځای پرځای ناستي وي، حرکت نه کوي. يوا ځې رډې-رډې ګوري.

دوی د جګړې بلا دومره وېرولي چې، په ژوندون يې دم ختلی دی. هره ورځ يې غېږې له اولادونو خالي کېږي.

ميندې، د تور ديو د غاښونو خرپا اوري چې، د دوی د بچيانو په هډونو شخوند وهي، دا ننداري له کلونو راهيسې روانې دي او لا يې هم د ختمېدو هيله نشته.

**۱۳۸۹**، د سلواغې **۵**مه

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لوحو ته اړتیا

هغه وخت ماشوم وم. د ښکار دومره شوقي وم چې، د هیڅ ښکلي مرغه په وژلو مې زړه نه خوږېده .

کله به مې چې کوم ښایسته مرغه وویشت او د حلالولو په وخت به یې راته په لاسونو کوچنۍ منګولې ولګولې نو زړه به مې لږ څه نرم شو ، خو ډېر ژر به رانه دغه احساس کډه وکړه. پر مرۍ به مې ورته چاقو راکش کړ، د مرغه پنجې به سستې شوې، بانه به یې سره ورغلل او څو څاکي وینه به تو یه شوه .

صله رحمي مې هغه وخت زړه ته لاره ومونده ، کله چې مې څو لوحې ولیدلې .

که پاکستان ته تللي یاست، نو دا لوحې به تا سو هم لیدلي وي .

زموږ کور هریپور کمپ کې و ، او چې کله به له پېښوره ور روان شوم، نو چېرته چې به ځنګلونه مخې ته راغلل، ځان سره به مې ویل: کاش ! چې لینده یا ټوپک را سره وی.

خو چې د سړک د غاړو په لوحو به مې نظر ولګېد ، نو زړه به مې ولړزېد ټوپک نه به مې کرکه وشوه.

پر دغو لوحو به لیکل شوي وو: (جنګلي جناورو پر رحم کری) یانې: پر ځنګلي ځناورو ورحمېږئ!

دا لوحې مې، هلته نورو لویو لارو باندې هم لیدلې او په هرځل لیدلو به یې دومره اغیزمن کړم، چې د نه ښکار سوګند به مې وکړ.

زه خو وایم چې،دا لوحې دلته هم په کار دي، چېرته چې دوه -درې کورونه هم وي،نو دا لوحې دې ورته ولګول شي او پرې دې لیکل شي :(( د خدای ج په حسین مخلوق ( انسان ) رحم وکړئ ! ) )

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو دا لوحې يوائې په پښتو او دري نه دي په کار، په انګريزي، اردو، عربي او ... دي هم وليکل شي، دلته خو د هر هېواد ښکاريان ګرځي کنه!!!

۱۳۹۰، د زمري دربيمه

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جنت

يو ناڅاپه څو خړ رنجر موټرونه ودرېدل. وسلوال کسان ترې په بېړه راښکته شول. ورپسې له يوه موټره څو کسانو يو تابوت را کوز کړ او بيا يې مخامخ کورته ور د ننه کړ.

وروسته يو ځوان، چې پوځي کالي يې پرتن و، د بورې مور پښو ته ټيټ شو او بيا يې په ژړغوني انداز وويل:

مورې ډېر زړور او صادقه سرتېرى له لاسه ورکړ، هغه ډېر ديندار و، حتى په جګړه کې يې هم لمونځ نه قضا کاوه.

خداى ج به يې حتماً و ښښي، د وطن او دين په لاره کې قربان شو، اوس به يې روح په جنت کې وي.

پوځيان ووتل، لا څو ساعتونه تېر شوي نه وو چې، بيا د کلا مخې ته شور شو، څو تنه چې، ول – ول لنګوټې يې په غاړو کې پراته وو، په بېړه يې تابوت را د ننه کړ.

يو تن چې، د پټکي په پيڅکه يې اوښکې وچولې بوډۍ مورته، چې حيرانه ولاړه وه، ور نږدې شو:

ته بختوره يې، د شهيد مور يې، ستا زوى د اسلام په لاره کې سرکښېنود. د خداى پاک رضا يې حاصله کړه، اوس به جنتونو کې ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوډۍ مور د دواړو تابوتونو منځ کې حیرانه ولاړه وه، کله یې وړو لمسیانو ته چې، په خاورو پر مخې پراته وو، کتلې او کله یې غبرګو تابوتونو ته.

یو ناڅاپه یې چیغه کړه:

دا څنګه جنت او د خدای ج رضا ده ؟؟ چې یو ورور یې د بل په وژلو ترلاسه کوي ؟؟

۱۳۸۲، د مرغومي ۴مه

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څو مره سخت، څو مره اسانه

تابوت یې یوه ورځ مخکې کلي ته ر سولی و ، جنازه نه وه شوې چې، زه هم ور ورسېدم. لا هم له هرې خوا نه خلک لکه د مچیو سیل را روان ول.

د کلي په دېره کې تېغرونه غوړېدلي وو ، خو خلکو ته ځای نه و ، په شاوخوا ډبرو او دیوالونو هم ناست وو.

د کور ور په دواړو پټونو پرانیستی پاتې و ، انګړ کې یو شور جوړ و ، څو نجونې به یو دم پرکټ ور ټیټې شوې، په کفن به او ښکې یو په بل پسې لویدلې او بیا به یو چا په زوره غږ کړ :

مه ژاړئ ، شهادت یې مه خرابوئ ! خو وروسته به له همدې خولې هم چیغه ووته.

چې څنګه به په دروازه نوې میر منې را ننوتلې، نو ماشومان به یې له غېږو وغورځول، په کټ به یې ورمنډې کړې او بیا به یې چیغو دیوالونه په لړزه راوستل.

د مړي په پزه کې سپینې پاغوندې ایښودل شوې وې، سترګې یې پټې وې،خو شونډې یې پوره نه وې ورغلې، شاید غوښتل یې څه ووایي ، لړ ترلږه د خپلې وژنې علت و پوښتي، خو غږ ترې نه راوته.

شیبه وروسته، څو تنه کورته راننوتل، یوه غږ کړ: د وروستي ځل لپاره یې وګورئ ! جنازه شروع کېږي.

میرمن یې له واړه زوی سره راغله، خو زړه یې ټینګ نه شو کړای، بیرته یې په کوټه ورمنډې کړې.

ماشوم تر ډېره د خپل بې روحه پلار په سینه سر ایښی و ، خلکو ترې راکش کړ او کټ پورته شو.

هدیره کې څو ځایه له تازه قبرونو میرمنې راټولې وې، زمونږ په رسېدو یې چیغې ټپ کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملا صاحب، له دفن وروسته په قبر وعظ پيل کړ، خلکو يې خبرو ته سرونه خوځول خو زه خپل فکر کې تللی وم:

ماويل: خدايه !

مورې خو هره ورځ اورو : په لسګونو وسلوال طالبان ووژل شول، دومره پوليس، دومره ملي اردو او يا ګڼ شمېر ملکي وګړي ووژل شول.

دا خو ټول زموږ د کور خلک دي، زموږ په کورونو کې خو هره ورځ همدا حال دی.

لويه ربه ! اورېدل يې څومره اسانه دي او زغم يې څومره سخت دی!

خدايه ! داسې وخت به هم راشي چې، خبرونه مو په مرګ نه وي شروع شوي ؟

۱۳۸۸، کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نوي کالي

چې څنګه د اختر له لمانځه را ووتم، په مخامخ هديره مې سترګې ولګېدې. سرې او شنې جنډې داسې رپېدې، لکه دوی چې هم د اختر مبارکۍ ته په تمه وي .

ورتاو شوم، له ما وړاندې څو ميرمنې راغلې وې، چا شناختې ټکولې، چا د قبرونو پر سر ولاړو بوټو ته اوبه ورکولې او چا د قبرونو جنډې نوې کولې.

ما هماغه قبر ته کتل، چې پر سر يې مات بنګړي لمر ته ځلېدل. هغه يې تازه وژلی و ، جنډه يې نوې وه او لا يې د قبر له شاوخوا را تاو ، اغزي نه وه لرې شوي.

يو ناڅاپه مې شاته د پښو دربهار شو ، يوه ميرمن ورخطا را روانه وه او ګډوډ ګامونه يې اخيستل .

د يوه لنډ قبر خواته کېناسته، کله به يې شناخته وټکوله، کله به يې پر قبر سر کېښود او کله به ترې ګرده را تاوه شوه .

بيا يې شناخته وټکوله او ترڅنګ يې غلې کېناسته. له توري غوټې يې سپين کالي چې په ګريوان کې يې کوچنۍ هنداري لګېدلې وې، را ووېستل، پر قبر يې اوار کړل او بيا يې خبرې شروع کړې:

هه بچی، ضد مه کوه ! واخله کالي دې پلار راوړل. د قبر پر سر يې داسې ورو-ورو لاس واهه لکه هغه چې يې د زوی تنکی مخ وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



زويه ! ته نوو کاليو ته ډېر هوسېدې، خير دی تېر اختر دې پلار سره پيسې نه وې، واخله واغونده !

يو ناڅاپه سلګيو ونيوله:

بلا دې واخلم زويه ! ستا په نصيب کې نوی کفن هم نه و ، ستا تنکی بدن پرچو ډېر شيندلی و ، په هماغه زړو کاليو کې يې ښخ کړې .

زويه !ضد مه کوه، ته خو بل ورور هم نه لرې، زويه... !

مور هماغه شان غلې –غلې لګياوه، د هغې اوښکې او پر قبر د غوړېدليو کاليو د ګريوان کوچنۍ هنداري لمر ته يو شان ځلېدلې .

۱۳۸۲، کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اختر تحفه

چې څنګه ماشومانو د پلار په لاسونو کې پلاستیکي کڅوړې ولیدې، ورمنډې یې کړې، سترې مشي هېر شول، هر چا په کڅوړو کې خپل نوي بوټونه لټول .

خو کلثوم په انګړ کې دغه ننداره، د خونې له کړکۍ څخه کوله. پلار یې راننوت، څو جوړې بوټان یې د هغې مخ ته کېښودل:

لورې خپله یې خوښ کړه!

کلثوم یوه جوړه خوښ کړل، دواړه یې خوا په خوا کېښودل، ښکلي برېښېدل، کوچنی لاس یې پرې را تېر کړ .

یو ناڅاپه پورته شوه، خو بېرته ړنګه بنګه را ولوېده، مور یې بسم الله کړ.

ټول غلي وو ، کلثوم بېرته بوټان له مخې لرې کړل: نه ، نه یې غواړم .

مورې ته ووایه !؟ په بوټانو څه وکړم؟ هر څه جوړه ښه ښکاري، زه د بوټانو جوړه نه خرابوم.

د مور سترګې د کلثوم په لور پرانیستې پاتې وې او له سترګو را روانې اوښکې یې یوه – یوه ګریوان ته څڅېدله.

کلثوم ، بیا په غریو نیولي غږ وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



مورې !دوی نو ولې زما د پښو جوړه خرابه کړه؟ ولې يې په يوه پښه کړم؟ زه خو اختر کې چاکره هم نشم تلی، زه بوټان نه غواړم.

مورې!

دا بوټان واخله، د هغه چا کورته يې يوسه چې،راکټ يې ويشتلی و او ورته ووايه :

زما لور اوس بې پښې ده، واخله دا بوټان دې خپلې نازولې لورته د اختر په تحفه کې ورکړه.

۱۳۸۲ ، دتلې ۲۲ مه

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ، ولې له ښکاره توبه وکړه!؟

له کوچینوالي مې ښکار سره مینه وه. کله – کله به مې په ویشتلي مرغه چې، د حلالولو پروخت به یې د خلاصون لپاره وروستۍ هڅه کوله او په لاس به یې راته منګولې لګولې، زړه خوږ شو. وه به لړزېدم، خو له ملایانو مې اورېدلي و چې ، ښکار مباح دی.

ثواب او وبال نه لري، همدې زړور کړی وم،همدا لامل دی چې د زرګونو ښکلو او ښایسته مرغانو ژوند مې اخیستی دی .

خو پوهېږئ !؟

یوه ورځ، له سرو توتانو په یوه ډکه شنه ځانګه مرغۍ ناسته وه، توت یې خوله کې نیولی و. د بادي ټوپک شپیلۍ مې ور برابره کړه .

هغې ولیدم .و ترهېده.وزرونه یې ببر کړل.خولا پورته شوې نه وه چې، ساچمه یې پرسینه ونښته او په شا لاړه .

له شنو پاڼو د مرغۍ خړې ښکې یوه په بل پسې ځمکې ته ورو –ورو را روانې شوې او مرغۍ والوته .

ور پسې ځارو شوم. هغې د کلا د دیواله په یوه چاودکې ځاله جوړه کړې وه، په څه خوارۍ یې ځان ور ورساوه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليکه وينه پر ديواله را وبهېده، په ځاله کې د وړو مرغيو - چې لا يې بڼکې پوره کړې نه وې- شور جوړ شو.

ټولې ترې راتاوې شوې، خو هغې سر کېښود. له منښوکې يې غوټۍ – غوټۍ وينه راوتله او وړو بچيانو يې ورته وزرونه ټېول.

لاسونه مې سست شول، ټوپک رانه ولوېد او ديواله ته تکيه ودرېدم.

ماويل: خدايه !

زموږ په هېواد کې خو هره ورځ په سلګونو خوار او زار انسانان وژل کېږي، هغوی ته هم دغه شان واړه ،وږي او لغړ بچيان په تمه وي. هغوی هم د پلار لاره څاري خو، ټوټې – ټوټې يې ورته راوړي.

خدايه !

ته ډېر ستر ذات يې، ستا د خلقت شهکار هره ورځ وژل کېږي، خو لا د ويشتونکيو متې غښتلي دي او لا يې له ماشې ګوتې نه دي لرې شوي.

ای لويه خدايه !

په خپل قدرت د ويشتونکيو لاسونه سست کړه. ټوپک ترې وغورځوه، پرېږده چې زموږ وږي او لغړ ماشومان له خپل سترې پلاره په مينه را تاو شي، پر اوږه يې ورته سرونه کېږدي او خوږې کيسې ترې واوري.

۱۳۸۷، کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زما هدیره

ملګرو !

زه په یوه هدیره کې ژوند کوم، د ورځې په ویښه او د شپې په خوب مړي وینم.

اوس راته ژوندي انسانان هم ګرځنده جسدونه ښکاري.

چاته چې لاس ورکړم، د لاس یخني یې احساسوم، بېرته یې ترې را کش کړم، فکر کوم مړي ته مې لاس ورکړی دی.

کله چې د خوب په هیله وغځېږم او سپین ځادر په ځان راکش کړم، ځان راته مړی ښکاره شي. ژر را پورته شم. هنداري ته ودرېږم او چې کله مې کلمې ویلو ته شونډې په حرکت راشي او عکس یې په هنداره کې وګورم ، پوه شم چې لا ژوندی یم.

پوهېږئ ولې !؟

ملګرو !

زما په ملک کې هره ورځ په لسګونو انسانان وژل کېږي او چې هرچېرته ووژل شي لومړی احوال یې ماته راځي.

پوهېږئ ! دا هدیره چې زه په کې اوسېږم چېره ده ؟

دا زما دفتر دی او زه یوه ژورنالست یم.

۱۳۹۰،د وږي ۱۲مه،

کابل،پژواک خبري اژانس

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تروریستان

مور پہ یوہ غرنۍ سیمه کې ژوند کوو ، هلته ټلویزیون څوک نه پېژني، خوځینې ـ ځینې یې راډیوګانې اوري.

زه هم یوه زړه را ډیولرم ، چې کله یې چالان کړم، ماشومان مې رانه د ځینو خبرو او کلمو په باره کې پوښتنې کوي.

له څو ورځو راهیسې یې رانه د تروریست د مانا پوښتنه کوله، خو ما نه کله لیدلي وو او نه یې په مانا پوهېدم.

هغوی مې په همدې تېرو یستل چې، تروریستان په ښار کې دي او چې کله لاړو خپله به یې وو ینئ.

په دې وروستیو کې ننګرهار ته د یوه خپل کور ته تللي وو ، په همدې ورځ هسکه مینه کې بمباري شوې وه .

راډیو بیا د خارجیانو له خولې د ترهګرو د وژنې خبره پرله پسې تکراروله ، ماشومان مې شله شول، بله پلمه مې نه وه، د بمبار سیمې ته لاړو:

د ماشومانو خواره واره جسدونه پراته وو ، نیم ژوانده بدنونه په وینو کې شتهېدل.

کوچنیان مې ورو-ورو راته نږدې کېدل، کلک یې نیولی وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یودم یې له قوي چیغې سره منډې کړې، پښې مې سستې شوې وې، هغوی پسې مې د منډو وهلو وس نه و ، ډېرې نارې مې وکړې.

خو هغوی په شا نه کتل او یوازې همدا نارې یې وهلې: موږ تروریستان یوو ، موږ هم وژني!!

۱۳۸۲،چنګاښ

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نر بچيان

د سړک دواړو غاړو ته خړ ټانکونه ولاړ وو ، پر سر يې درنې ماشيندارې نصب وې او شپېلۍ يې مخامخ غره ته سيخ کړې وې.

د ماشيندارو شاته تنکي زلميان ګوته په ماشه درېدلي وو او سترګې يې په غره نښتې وې.

دا د جلال اباد ـ اسعداباد لويه لاره ده ، چې له شنو پټيو تېرېږي او د غنمو شنه فصلونه يې باد ته اتڼونه کوي.

په موټر کې ناست يوه سړي وويل: له دغو غرونو کله – ناکله پر سړک ډزې کېږي، ځکه د ملي اردو سرتېرو دلته مورچلې نيولي دي.

بل غبرګ کړ: د نر بچيان دي چې ډزې کوي، که دوی نه وي وطن رانه پردي نيسي.

دوی خپلو کې په همدې موضوع خبرې کولې، خو زه بل فکر کې تللی وم. ماته د ننګرهار ګوشته ولسوالۍ يادېده.

پر دغه ولسوالۍ دا څو يم ځل دی چې، پاکستاني پوځونه ځمکني او هوايي بريدونه کوي، خلکو له وېرې کورونه پرې ايښي دي او که بريدونه همداسې روان وي نو د ډيورنډ کرښې ساحه به نوره هم پراخه شي.

ځان سره مې ويل کاشکې دا ( د نر بچيان ) پر ګوشتې بريد کونکيو ته هم خوله ماتونکي ځوابونه ورکړي، هغوی خو هم پرديان دي کنه!

۱۳۹۰، د وري ۲۷مه/جلال آباد

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عمر اوسط

هر سهار د هغو دوکانونو مخې ته تېرېږم، چې له مرمرینو ډبرو د قبرونو شناختې جوړوي.

شناخته جوړونکي ډېر بوخت وي، څوک په شناخته لیک کوي، چا سره برقي ورېږ الې وي او د قلم خطونه تازه کوي او چا سره مویک وي، نوشتې رنګه کوي.

په شناختو د شهید کلمه په سره رنګ لیکل شوي وي، ژر ځانته سترګې را کاږي. زه هم د دغې کلمې په لیدلو ، شناختې ته تم شم او ژوند لیک یې لولم.

دې شناختو ، په پخوانیو احصایو بې باوره کړی یم، موږ جغرافیه کې د خپل ولس د عمر اوسط له ۴۰ لوړ لوستی و.

خو دا غلطه ده، یوه لویه تېروتنه ده، لاړ شئ د قبرونو لوحې وګورئ.!!

هلته د هیڅ شهید عمر له ۳۰ لوړ نه دی. هلته لیکل شوي: شهید ... چې د ۱۸ کلنۍ په عمر په یوه چاودنه کې ووژل شو.

شهید ... چې د ۱۲ کلنۍ په عمر په هوایي برید کې ووژل شو.

او شهید فلانی چې په.......

د نفوسو د منځني عمر احصایه غلطه ده، دلته څوک له ۳۰ کلنۍ پورته نه ځي.

**۱۳۸۹، د زمري ۱۲مه/ کابل**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ټپي نجلۍ

کابل ښار کې د هډوکو یو ډاکټر ته له ناروغ سره تللی وم. ډاکټر پروفیسر دی او له ډېرو لرو ځایونو ورته خلک راځي.

د دهلېز په منځ کې اوږدو څوکیو باندې خلک کتار ناست وو. زه هم له خپل ناروغ سره پر همدغه څوکۍ ناست او نوبت ته منتظر وم.

یو ناڅاپه زګیروي شول او بیا د دهلېز پرده پورته شوه.

یوه نجلۍ له درېیوو ځوانانو او یوې مېرمنې سره را ننوتله. مېرمنې او ځوانانو نجلۍ له اوږو نیولې وه او هغې چې پر مخ یې سورپوړنی را خور کړی و، په ډېر زور ګام پورته کاوه.

نجلۍ دیواله ته مخ واړو او کږه کېناسته. هغه، د پکتیا له یوې کلیوالې سیمې نه راوړل شوې وه. له درده تاوه راتاوه کېده، خو حتی خپل غږ وچتول ورته هم شرم ښکارېده، چوپه خوله ناسته وه.

شیبه وروسته یې د اکسرې څانګې ته د ننه کړه او بیا یې عکس ډاکټر ته وروړ.

ډاکټر، عکس د ګروپ رڼا ته مخامخ کړ او بیا یې قلم پر یوه تور ځای کېښود:

دغه ده مر مۍ. هډوکی بچ دی، مداخله په کې نه ده په کار، خپله به را ووځي. عملیات خطرناک دی که معمولي سهوه هم وشي نو د فلج کېدو خطره یې شته.

ژنې له ډاکټره راووتل او بیا د ټپي ترڅنګ یې د ډاکټر خبرې تکرار کړې. نجلۍ د درد زغم له لاسه ورکړی و
.

نا قراره وه. هغې چې کله د فلج کېدو خبره واورېده نوره هم ورخطا شوه، کلیوال چاپېریال ور یاد شو، هلته خو هسې هم نجونې یو غم ګڼل کېږي او بیا چې معیوبه شي نو بیا خو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاید هغه خپلې راتلونکې ته زوربده، شاید دې ورې مرمۍ یې له سترګو تول راتلونکې خوبونه الوځولي وو.

نجلۍ، غوښتل ځان تلقین کړي، نېغه به کېناسته، خو تلقین حقیقت له منځه نه شو وړلی، درد به پرې زور شو او بېرته به په ملا کږه شوه.

خپل ناروغ رانه هېر شو، څو ځلې مې زړه راغونډ کړ، غوښتل مې د ټپي په اړه وپوښتم خو کلماتو یاري نه کوله، زړه به مې ډک شو او د خبرو وس به مې بایلود.

یو ځل بیا مې پوښتنې ته ځان جوړ کړ، خو خبره مې خوله کې وچه شوه او ځان سره مې ویل: پوښتنې ته څه اړتیا ده؟ خو یا به له تروریزم سره د مقابلې او یا به د اشغالګرو پروړاندې د جهاد مرمۍ وي.

یو اځې دا خو نه ده، هر ورځ په لسګونو ځوانان د همدې دواړو مرمیو په ټس کې وژل کېږي او یا لکه دغه نجلۍ د مرګ او ژوند په پوله پاتې عمر تېروي.

د لیندۍ لومړۍ ۱۳۸۸



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مور نصېحت

په ماشومتوب کې د غولکې (لېندۍ) ډېر شوقي وم. که څومره به مشرانو منع کولم نه کېده، يوه ورځ مې مور راته ويل: ګوره ! مرغۍ وېشتلو نه خو لاس نه اخلې، اخر دومره خو ومنه چې که چېره مرغۍ له واړه بچي سره ناسته وه نه به يې ولې، ځکه واړه بچي خو هسې هم د خوراک نه وي، کېدای شي هغه ولګېږي او دا ډېر ظلم دی.

د خدای بښلې مور نصېحت راته تېره پنجشنبه هغه مهال را ياد شو، چې د کونړ له مرکز اسعد اباد نه د جلال اباد پر لور روان وو. دلته د سړک په غاړه د سالارو باغ دی او بيا ورته د نږدې غره پر سر د بهرنيانو پوسته ده.

د غره ډډه تل له ماشومانو ډکه وي، دغه بېوزلي ماشومان تړوله ورځ خاشاکو پسې کږوپه ملا ډېره، په ډېره ګرځي.

زموږ د سورلۍ موټر لا د سالارو بڼ ته رسېدلی نه و چې، مخامخ غر خړو ګردونو کې پټ شو او بيا ډېرې لکه زموږ ماشومان له وېرې سړک خواته په رامنډو شوې.

په سترګو مې لاسونه کېښودل، ماويل اوس به ډېرو سره کجاوې په شا ماشومان هم سړک ته را ورغړي، خو د خدای ج رحم و، مازيګر قضا وو او ماشومان کورونو ته تللي وو.

راکټونو پوستې نه لاندې د غره ډډو کې خولې خښې کړې وې او لوګي پورته کېدل.

د سړک په غاړه خلکو ورکتلې هم نه، يوه ويل: وروره ! هره ورځ همدا حال وي، د غره ډډې سورۍ- سورۍ شوې.

ما ويل: کاشکې ! د راکټ ويشتونکيو ميندې هم خپلو اولادونو ته نصېحت وکړي، چې د ښکار په وخت کې دې په تنکيو ماشومانو خيال ساتي، هڅې نه ووژل شي، د دوی وژل خو هم لوی ظلم دی.

۱۳۹۰، د وری ۱۰مه

(c) ketabton.com: The Digital Library



جلال اباد

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قاتله!

د اختر په لومړۍ ورځ، زړه نازړه د یوه ملګري کور ته لاړم، هسې مې زړه تنګ و.

بیرون کټونو کې کېناستو او د لمر تودو او پستو وړانګو مو پرهرونو لورېينه کوله .

چې څنګه مې د چایوو پیاله پورته کړه، یو موټر را تاو شو او بیا د یوه کور مخ ته -چې زما د ملګري کور سره دیوال شریک و- ورتاوشو.

ملګري مې سر وخوځو او بیایې ورو وویل: بیا به محشر جوړ شي .

له موټره څو مېرمنې ورخطا – ورخطا ښکته شوې او چې څنګه له کور بنو میرمنو سره غاړه په غاړه شوې چیغو ځمکه ښوروله .

چا ، ویل: زما ځوانیمرګه وروره ! چا ، ویل: زما نا مراده خوريیه، چا ، ویل زما ګرانه ماما او چا ....

ملګري مې ویل: ډېر بې بدو ځوان و ، د واده یې لا میاشت پوره نه وه، څو ورځې وړاندې یې ورته سوری – سوری، جسد راوړ.

چیغو هماغه شان د کلا دیوالونه خوځول. پیاله مې پر مېز کېښوده.

ما ویل ، قاتله !

ستا ټوپک څومره ظالم و ، چې په یوه ګولۍ یې په لسګونو زړونه سوري کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۳۸۵، کابل**

د کوچني اختر لومړی ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په قتل پښېمانه یم

هغه ورځ مې د ډېرو ښکلو مرغانو ژوند اخیستی و، په یوه لاس کې مې د هغوی جسدونه له پښو نیولي وو او په بل لاس کې مې بادي ټوپک و.

د مرغانو له پرې کړو غاړو نه څاڅکي ــ څاڅکي وینه څڅېده او یوه نری لیکه یې راپسې جوړه کړې وه.

مرغۍ به د ونې په شنه څانګه ناسته وه، خوږې نغمې به یې غږولې او یا به یې د خپلو بچیانو لپاره دانو ټولولو پسې پټیو کې ټوپونه وهل.

خو زما زړه دومره ډبرین و، چې د هغوی ښایسته ځوانۍ او د ګېډې مجبوریت ته مې نه کتل، د بادي شپیلۍ به مې ور مخامخ کړه او د ماشې په کشولو به ښکلی غږ ټپ شو او ښکلې مرغۍ به شا په تخته واوښته.

نور کورته راستنېدم، هوا توده وه، د ویالې په غاړه – غاړه، شنو وښو کې رارروان وم. یو ناڅاپه ودرېدم:

هلته د ویالې په ډنډ اوبو کې یو ښکلی مرغه ناست و، کله به یې مښوکه اوبو کې ښکته کړه، کله به یې ځای په ځای ټوپونه وهل او کله به یې وزرونه رپول.

ورنږدې شوم، د پښو غږ یې واورېد، سر یې راپورته کړ، خو هماغه شان یې غاړه له مینې کږه وږه کوله او وزرونه یې رپول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرغه، پوهېده چې زه له غوښو جوړ انسان یم او دغه مخلوق له مینې او عاطفې سره ټینګ پیوند لري نو ځکه ډاډه و.

ما د ټوپک شپیلۍ ور برابره کړه، خو هغه بیا هم باور نه کاوه چې، دغه شان مخلوق دې دومره ظالم وي، بیا یې سر اوبو کې ښکته کړ خو چې کله یې راپورته کړ نو زما خواته یې د خپلو همنوعو پرې کړۍ غاړې ولیدلې، ور خطا شو، خو هیڅ یې نشو کولی.

ځان یې الوت ته جوړ کړ، خو لا پورته شوی نه و، چې ساچمه یې پر سینه ونښته او بېرته په شا ولوېد، شاوخوا اوبه یې سرې شوې، ورټوپ مې کړ، ما یې په مرۍ چاقو کشوه او هغه دواړه سترګې، داسې زما په سترګو ښخې کړې وې تا به وې، ترحم او زړه سوی په کې لټوي.

خو چې وه یې نه موند، نا هیلی شو او بیا یې ورو-ورو سترګې پټې کړې.

له هغه وخته شاخوا ۱۲ کاله تېر شوي، خو اوس هم راته د هغه مرغه مینه، ناز او خپل ظلم را یادېږي او کله-کله راته ځان قاتل ښکاره شي، له ځانه مې نفرت وشي، ډېر پښېمانه شم خو هغه راته نه جبرانېدونکې ګناه ښکاري.

چې اوس هم کله، د شپې هماغه حالت را یاد شي، خوب را نه وتښتي او تر سبا نارامه یم.

کله خو یو دم کښېنم، سترګې ومښم، ځان رانه هېر شي په نورو فکرونو سر شم، له ځانه وپوښتم:

د انساني قاتلانو به څه حال وي ؟

هغوی چې په ښایسته ځوانیو خاورې اړوي، هغوی چې د مور ایکي یو زوی وژني، هغوی چې تنکي ماشومان د پلار له خوږ نعمته بې برخې کوي او هغوی چې ...

دوی هم له غوښو جوړ انسانان دي، دوی به د خپل مقتول وروستۍ سلګۍ څومره پرېشانه کوي؟ څومره به نارامه وي او ... ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو بیا وایم: که قاتلان انساني احساسات لري نو ولې پښېمانه کېږي نه؟ او که پښېمانه کېږي نو ولې د قتلونو لړۍ روانه ده ؟او ولې ... ؟

اوس په دې فکر کې یم چې، خدایه !د دغه شان کسانو په کالبوت کې زړونه دي او که ... ؟؟؟

کابل

۱۳۸۸، د مرغومي ۳مه

(c) ketabton.com: The Digital Library





د لنبو او لوګيو له منځه د زګېروييو او چيغو غږونه پورته کېدل. له موټره ليکه – ليکه، ويني راوتلې .

له شاوخوا کورونو ، د موټر په لوري خلکو منډې وهلې او هرچا په چيغو – چيغو د خپلو خپلوانو لټه کوله .

ځانمرګي له ځان سره ډېر کسان نور هم په حقه روژه کې وچې شونډې جنت ته لېږلي وو.

د مړو او زخميانو په راوېستلو مو پيل وکړ، يوځوان د موټر په دهلېز کې پروت و، سور پوښی ياسين شريف يې پاڼې - پاڼې، ځنګ ته غورځېدلی و .

د موبايل د زنګ ورو-ورو غږ اورېدل کېده، زلمی مو په اړخ واړو، د موبايل غږ غلی شو .

جيب ته مې لاس ورښکته کړ، موبايل او کې (OK) شوی و ، غوږ ته مې نږدې کړ :

(c) ketabton.com: The Digital Library



زويه !

چېره يې، ولې ځواب نه راکوې؟ په مورې خو دې قيامت تېر کړ .

زويه ! د ناوې دې زړه چوي، د ا ، بل ورور مرګ دې ډېره وېرولې، هه ! خپله ورسره وغږېږه.

اواز بدل شو ، ورو يې وويل :

چې غږ شي، زړه مې سست شي، فکر کوم بيا کونډه شوم. خدای ته وګوره، ژر کورته راشه ...

هغه هماغه شان ساه نيولې لګيا وه، سترګې مې په ځوان نښتې وې، د هغه له زړه وينې روانې وې، شونډې يې نيمه پرانيستې وې، شايد وروستۍ خبره يې هم نيمايي پاتې شوې وه، خو سترګې يې د چا د وروستي ځل لېدو په هيله خلاصې وې.

خدای خبر ؟ ناوې به نورې څه خبرې کړې وي، خو زما لاس سست شوی و او موبايل رانه د زلمي پر سينه لويدلی و.

۱۳۸۵، د تلې لسم سهار ، کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اختر کالي

څو ځلې د خياطۍ مخې ته تاو راتاو شو ، خو چې کله به يې دروازې ته نږدې شو ټکنی به شو او بېرته به راوګرځېد.

دا ځل بيا دوکان ته ورغی، ښي پښه يې د ننه کړه، بېرته شاته ګرځېده چې خياط له لاسه ونيو.

له سترګو يې دانه – دانه اوښکې روانې وې، خياط کله د ده سترګو ته کتلې او کله يې لاس ته چې اوار لړزېده.

له جيبه يې کوچنۍ کارت راوه ويست، پر مېز يې کېښود .

خياط ، وويل: وروره ! خپه نه شې، تر ماښامه يې ګنډم .

ده چيغه کړه : نه ، په نوم يې خط کش کړه، هغه له اختره مخکې کالي واغوستل، هغه يې پرون سوری – سوری کور ته راوړ، هغه نور کاليو ته اړتيا نه لري ، هغه ... نوره خبره يې نيمايي پرېښوده او په منډه له دوکانه ووت .

کابل،۱۳۸۲ د ليندۍ **۲۵** مه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يواځې

چې څنګه مو د سورلۍ موټر له سرخکانو را تېر شو، نو يو ټاير يې پنچر شو، زه له دوه نورو کسانو سره په دوهم سيټ کې ناست وم.

درې واړه ښکته شوو، موټروان ټاير بدلوه، چې څلور خړ رنګه موټرونه چې پر سريې ماشينداري نصب وې، بل څراغونه را ورسېدل .

د هرې ماشيندارې ترشا يو ــ يو سورمخی ولاړ و او داسې يې لاسونه خوځول تا به وې دوی د ځمکې پرمخ بل څوک نه غواړي.

موږ سره ناست، يو مساپر د يادو شويو موټرو په ليدو خپل هواس بايلود، ساه يې ژر ــ ژر ويستله او بيا د موټر شاته، ترهغه پټ ناست و ترڅو د بهرنيانو موټر ښه پناه شوي نه وو.

پوځي موټرو پسې د سورليو د موټرو لوی کاروان جوړ شوو، خو هېڅوک چې له هغوی څخه د مخکې کېدو جرئت نه و او هغوی هم په خپله زړه داسې روان وو، لکه دلته چې په ميله راغلي وي.

ماهيپر ته نږدې د زرداد پخواني مرکز څنګ ته زموږ موټر پوځي موټرو ته نږدې شو، ماسره پرڅوکۍ ناست سړی يو دم نيغ شو، په موټروان يې غږ کړ: مه ځه.. بريک ونيسه، هله!

ناست کسان دده ورخطايي هک پک کړل، ټولو ورکتلې، د هغه د مخ پوټکی تور شو، ستونی يې وچ شو او خوله يې وازه پاتې شوه.

ترې ومو پوښتل، اخر ولې؟ دومره وېره؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ته لکه چې څه ورياد شوي وي، سر يې اخوا دېخوا په حرکت راغی او ټول خوځېده.

يو دم يې چيغه کړه: همدغو زه يو اځې کړم، زما په .... غږ يې ټپ شو، بيا يې سر پورته کړ:

ورونو ! تاسو ته به ډېر ډارن ښکاره شوی يم، خو تاسو خبر نه يئ، زما وېره زما په اختيار کې نه ده.

هغه خبره پسې وغځوله:

دوه کاله وړاندې له خپلو دوه زامنو سره له تورخمه راروان وم، په لاره کې په همدغه شان موټرو کې ناستو کسانو باندې چاودنه وشوه او دوی د ټوپک خولې موږ ته را سيخې کړې.

په شاوخوا ولاړو موټرو کې ناست کسان يې په وينو ولړل، زموږ موټر ته هم مرمۍ را ننوتې، چيغې شوې، د موټر په دهلېز کې وينې روانې شوې يو له بله خبر نه وو.

چې څنګه مې پام شو دواړو زامنو مې سرونه ځوړند نيولي وو، د موټرپه دهلېز کې د دوی د بدن وينې هم روانې وې، ډېرې نارې مې پرې وکړې خو هغوی سرونه پورته نه کړل.

دې کاپرو په دې بوډا توب کې يو اځې کړم، زه اوس هيڅ نښنه نه لرم.

استازه!

دوی ته مه نږدې کېږه ! دوی مو نښنه ورکه وي، دوی....

د کب ۱۳، ۱۳۸۲کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یہ بچہ کس کا ہیں؟

هغه مهال د ښوونځي زده کونکی وم. هریپور کمپ کې اوسېدو ، هيڅ تفريحي ځای مو نه درلود.

په انګړ کې مو يوه د ارهنډې ونه ولاړه وه چې، بوی يې په اوړي کې سر په درداوه، خو هغې ډېرې اوبه نه غوښتې، نو ځکه مو پرې ايښې وه او يو اځې شين والي ته يې خوشحاله وو .

شايد همدا لامل به و چې، د مکتب درې مياشتنۍ رخصتۍ مې په کور کې؛ هغه هم تړوله ورځ په ختېينه کوټه کې تېرولې او دې کار په راډيو اورېدو روږدی کړی وم.

دا نن چې د حمزه بابا ، خاطر افريدي، اعظم اعظم، حنيف او ... کوم بيتونه په حافظه کې لرم، د هماغې دورې پيداوار دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېښور راډيو ماسپښين د فرمايشي سندرو يو پرګروام خپراوه چې، سندرغاړو به ډېرى، د پورته ذکر شويو شاعرانو غزلونه ويل.

پېښور راډيو يو بل پروګرام - نه پوهېږم چې له فرمايشي سندرو وړاندې و که وروسته- ؟ هم خپراوه. دا پروګرام له کراچۍ ريلې کېده، په اردو و او نوم يې و ( يه بچه کس کا هی؟ ) ( دا ماشوم د چا دی ؟ )

په اردو سم نه پوهېدم، خو پروګرام ډېر خوند راکاوه، دې پروګرام ته به يو ماشوم را بلل شوی و. هغه به داسې ماشوم و، چې له خپلې کورنۍ به ورک شوی و.

کوربه، به له هغه پوښتنې کولې. ورته ويل به يې: د چا زوی يې؟ کور مو چېرې دی؟ څنګه ورک شوې او ...؟؟؟؟؟

ماشوم به په وړه ژبه ځوابونه ورکول، چې کله به يې ستونی هم ډک شو.

ماشوم ته به ډېر خپه شوم، خو بېرته به مې زړه په دې خوشحالوه چې ځه، له همدې لارې خپلې کورنۍ سره بيا يوځای کېږي او څوک به يې پوښتنې ته راشي.

پوهېږئ، دا پروګرام څنګه له ۲۵ کالو وروسته بيا رایاد شو؟

دوه ورځې وړاندې په ټونس موټر کې له ميرويس ميدانه ( کوټه سنګي ) کورته راتلم، په شاته څوکۍ کې ناست کسان خپلو کې غږېدل. په دوی کې يو تن تازه د ميدان وردګو له چک ولسوالۍ څخه راغلی و. نورو ته يې د خپلې سېمې کيسه کوله.

دی، د چک ولسوالۍ له سيبک (چې په عامه محاوره کې يې سيوکه بولي) راغلی و. ويل يې :

په خدای چې اوس يې په ياد کړم، په بدن مې يخه خوله راشي، د سړکه په غاړه يې غورځولی و .

ځوان و، لاسونه يې زولانه وو، شا په تخته پروت و، لکه چې په سينه يې ويشتلی و، سينه يې تکه سره وه.

تاسې خو هغه ځای ليدلی کنه؟ له کلي ايله ۵۰۰ متره لرې دی، خلک په دې سړک ځي او راځي خو دې ځوان ته څوک د نږدې ورتلو جرئت نه کوي، دوه ورځې خو ما وليده چې هماغه شان پروت و .

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو بل غږ کړ، دا ډېر خونکاره ځای دی، هېر مو شول یو کال وړاندې همدلته د خواجه عمري چینې ته نږدې یو ځوان ځو ورځې د ولې( یو ډول ونه ) په یوه خانې کې ځوړند و؟

دوی همدا اسې مثالونه ورکول، خو زما فکر بله خوا تللی و او بې اختیاره مې همدا جمله په خوله وه: (یه بچه کس کا هی؟ )

۱۳۸۹د غبرګولي ۸مه

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ماشومان

زه یوه دوه نیم کلنه لور او یو څلور کلن زوی لرم. دواړه راته ډېر ګران دي او هغوی ته هم همدومره ګران یم.

کله چې د کور په دروازه ننوځم-هغوی لکه راتګ چې مې لاره څاري- په منډو شي او مخې ته مې راشي.

د هغوی راتګ رانه د دفتر ټوله ستړیا لرې کړي او په لیدلو یې نوې ساه واخلم.

داځل چې څنګه کورته ننوتم، هغوی په هماغه شوق را منډه کړه، دواړه مې غېږ کې واخیستل او ښکل مې کړل .

د کوټې خواته روان وم ، یو ناڅاپه وربېږدېدم، لاسونه مې سست شول، دفعتاً راته یو حالت په یاد شو:

مورېنه وړاندې ځمکه وښورېده، لوګي پورته شول او د نږدې کورونو ښیښې په شرنګا شوې.

ور ورسېدو ، سره لنبه تاوېدله او شاوخوا نیمګړي جسدونه ښورېدل، وینې ځمکه خټه کړې وه او ګامونه یې ښویول.

غوښې مو ټولولې چې، شاته مې د زګېروي غږ شو، مخ مې واړو :
د هغه له سینې وینه را خوټېدله او هر اندام یې جلا- جلا ښوځېده، شیبه وروسته یې په برګه ږېره له خولې وینه راغله او سترګې یې ودرېدې، خو زړه یې هماغه شان ټوپونه وهل.

ټکسي ته مو پورته کړ، لا روغتون ته په لاره وو، چې ورپېده او سترګې یې پټې کړې، موټر مو بېرته راوګرځو، خو حیران وو کوم خواته یې بوځو ؟؟
د جیب شیان مې ورته راوبستل ، د تذکرې په پوښ یې د ټېلېفون یوه شماره لیکل شوې وه، زنګ مو ورته وواهه

وروره ته (.....) پېژنې ! ؟

-هو ، خیر خو به وي؟ هغه همدا اوس کارته وتلی دی، مازیګر مهال به راشي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کور ننبه مو ترې واخيسته او موټر مو ورتاو کړ. د انګړ ور مو ور وټکاوه، شيبه پس دوه ماشومان در وازې ته راغلل .

يوه په وره ژبه وويل: پلار مې کار ته تللی، ماته بوټان راوړي.

ما موټروان ته مخ واړو، خو هغه سره هم ځوا ب نه و يواځې اوښکې يې سترګو کې تاوې راتاوې شوې.

چاره نه وه، په وينو ککړ جسد مو ورښکته کړ، ماشومان غلي ودرېدل، يو ناڅاپه يې رامنډه کړه ترڅو مورېتينګول د پلار پر سينه يې منګولې ښخې کړې او...

ددې حالت په يادېدو مې له لاسونو دمه لاړه، خپل ماشومان مې له غېږې ولوېدل، ځای په ځای کېناستم او ټول کور والا رانه راتاوو، شول .

۱۳۸۵، کابل چهارآسياب

(c) ketabton.com: The Digital Library



## له ورېځې وېره

د کابل ښار په عيد ګاه جومات کې په سلګونو کسان د خدای ج حضور ته ليکه ودرېدل ، په ملا مات شول ، ټنډې يې په ځمکه ولګولې او بيا يې په عاجزۍ له لوی ښښتن ج څخه، د باران غوښتنه وکړه.

لږ وروسته په اسمان کې ورېځې پيدا شوې، خلک خوشحاله شول، خپله دعا ورته قبوله ښکاره شوه.

خو د ورېځو په ليدو يو نا څاپه زما په بدن د وېرې يوه لړزه راغله، ستونی مې وچ شو ، پښې مې سستې شوې او اسمان ته مې له ډاره نه شو کتلی.

ذهن مې څو زره کاله وړاندې لاړ ، د عاديانو هغه حالت را په ياد شو ، چې د ورېځې په ليدلو خوشحاله وو او ويل:(( هذا عارض ممطرنا ... الايه ))

خو هغه د رحمت ورېځ نه وه، د خپلو بدو او ناروا اعمالو سيوری يې و ، چې پر سر يې ودرېد او د خدای (ج ) له حکم سره سم ترې د اوبو پرځای ډبرې ووربدې.

د زړه له سترګو مې په خپل هېوادکې د خدای (ج) د خلقت پر شهکار ( انسان ) روان ظلمونه، يو- يو تېرېده.

هلته به له يوه انسانه سر پرې شو ، په بل به سرې ګولۍ ونښتې، بمونو به ماشومان په لنبو کې پورته کړل، بل به د يوه وحشي انسان د جنسي هوسونو قرباني شو او....

کله مې د زړه له سترګو دغه حالتونه د سرفلمي په څېر تېرېدل او کله مې د سر په سترګو په اسمان کې غوټه ورېځې ته کتلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټوله شپه له همدې وېرونکي حالت سره مخ وم، هره شیبه مې دکانو د ورېدو په ویره کې تېرېده او تر هغې په وېره کې وم ترڅو چې مې د نږدې جومات له منبره د سهار ملکوتي اذان واورید.

۱۳۸۷، کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وعظ

په هدیره کې له یوه تازه قبره خلک راټول وو، په منځ کې یوتن چې سپینه لونګۍ یې پرسر او له مخه یې ګڼه ږیره راتاوه وه ولاړ و، د لاسونو په خوځولو یې خبرې کولې.

هغه وویل :

ټول افغانستان له کفارو ډک دی.فحاشي ده، عیاشي ده، خلک ورځ په ورځ عیسویان کېږي. ای خلکو ! خدای ته به څه ځواب ورکړئ ؟؟

هغه په پوره جذبه د جهاد د فرضیت احکام یو په بل پسې بیان کړل او بیا یې قبر ته لاس ونیو:

د همدغو شهیدانو برکت دی چې، پر موږ له اسمانه کاڼي نه اوریږي او که دغه شان مجاهدین نه وي نو ..... ؟

ای بې همته ولسه ! په خپلو زامنو د امریکایانو خدمت مه کوئ! جهاد ته یې را ولېږئ !

جهاد یوازې په طالبانو فرض نه دی، ټول مسلمانان باید دا فریضه ادا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا ورځ تېره شوې نه وه، چې په يو بل کلي کې د جنازې اعلان وشو ، جنازه تېره شوې وه، د هديرې په لور مې منډې کړې دا کلي موږ نه لرې و ، ترڅو رسېدو مړی ښخ و او ملا صاحب د قبر په سر وروستۍ خبرې کولې.

ملا صاحب وويل :

دا کوم شريعت اجازه ورکړې چې، پرته له محکمې دې څوک ووژل شي؟ کوم دين سر غوڅولو ته جواز ورکوي ؟؟

قران څه وايي ؟ خدای ج خو ناحقه قتل حرام کړی دی.

حاضرينو !

طالبان ديني علماء وژني، انجينران، ډاکټران، عام خلک وژني، موږ اسلامي جمهوريت لرو، اساسي قانون لرو. د دې اسلامي نظام پرورړاندې درېدل بغاوت دی، د باغيانو مرګ روا دی.

هغه، د وژل شوي سرتېري قبر ته لاس ونيو: له اسلامي جمهوريت او خلکو څخه دفاع يواځې د ملي اردو دنده،نه ده. زموږ د ټولو وجيبه ده .

زما څنګ ته ناست سپين ږيری، چې په ا ،بله جنازه کې هم راسره و، مخ را واړو :

ځوانه !

موږ خو نه پوهېږو ، څه چې ديني عالمان وايي په هماغه عقيده لرو ، ته راته ووايه ! د چا ومنو ؟؟

بوډا ټول لړزې واخيست، په سپينه ږيره يې رڼې اوښکې راغلې، پر اوږه يې راته لاس کېښود:

تاته وايم و ځوانه!

زموږ بچي خو دواړه خوا وژل کېږي، کوم په حقه دي کوم ناحقه دي ؟ولې ديني عالمان يوه خبره نه کوي؟؟

ما سر پر زنګنو ايښی و ، هغه هماغه شان لګيا و. يو وخت مې سر پورته کړ، چو په چوپتيا وه، خلک ټول تللي وو ، سپين ږيري قبر ته ډډه وهلې وه او په قبرونو جنډې رپېدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۳۸۲، کابل**

# د خپلواکۍ جشن

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه پوهېږم څه تاثير به وي؟ خو چې کله مې د چا خبره په ځوانۍ پل ايښی، نو شوقونو رانه کډه کړې ده .

له يوې اونۍ مې ملګري راپسې وو او ټينګار يې کاوه چې بايد کابل ته ورسره لاړ شم ، خو مانه منله .

د اسد مياشت په اخر وه، ګرمي خوله ښخه کړې وه، مازيګر چې کورنه بيرون راووتم، درې ملګري مې د کور څنګ ته ولاړ وو.

يوه غږ کړ: پلمه، ملمه نه منم ، خامخا به راسره ځې.

يوه بل وويل: وروره ! سبا د اسد ۲۸ مه ده، د ازادۍ ورځ ده، دې جشن ته به خامخا ځوو.

ما تر څو ( نه ) ته خوله جوړوله، بل ملګري مې غږ کړ: د ازادۍ جشن دی، اخر ته د وطن له ازادۍ سره هم مينه نه لرې ؟

نا چاره وم، سبا ټول د موټرو اډې ته راټول شوو ، چې کله مو د سورلۍ موټر له سرخکانو تېر شو ، درې څلور زېږ رنګه موټر چې، درنې وسلې يې پر سر نصب وې او د هرې وسلې تر شا يو تورو چشمو والا کل سری ولاړ وو ، په مزه –مزه روان وو.

چې کله به زمونږ موټر څو متره ور نږدې شو ، لا س به يې وخوځاو او بيا به يې د وسلې شپيلۍ تاوه راتاوه کړه.

بېرته به شا ته شوو، دوی په خپل زړه روان وو، کله به لاره کې ودرېدل، دوربينونو کې به يې د غرونو ډډې وکتلې او کله به بېرته موټرو ته وختل.

زمونږ شاته په سلګونو موټر نور هم وو، خو هيچا کې د مخکې ورتګ جرئت نه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مازيګر قضا پر ماهيپر ور پورته شوو او کله چې غازي لوبغالي ته رسېدو ، نو خلک خواره شوي وو او د خپلواکۍ جشن يې لمانځلی و .

د ۱۳۸۲ لمريز کال د زمری ۲۷ - مه

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مور

د دهن باغ څلور لاري کې داسې خلک را ټول وو، تا به ویل د کوم هنر مند د فن ننداره کوي. خو ټولو سترګې پورته نیولې وې، دچوک شاو خوا کومک داره جګې ډاټسنې ولاړې وې او تو ر پاچ لنګوټې پر سر خلک، کلاشینکوف په لاس ګرځېدل را ګرځېدل.

د څلور لاري د ننه دوه ځوانان د دار په پړو کې ځوړند وو او خپل بې حرکته سرونه یې پر اوږو ایښي وو. بې ساه بدنونو به کله لیدونکیو ته مخه او کله شا اړوله.

خلکو ورو-ورو ځای خوشې کاوو ا وګڼه ګونه کمېدله. د ما زیګر لمر هم له غمه ژېړ اوښتی و او له وېرې د غره شاته پټېده.

خو یوه چادري کړې ښځه هماغه شان په خپل ځای ولاړه وه او دواړه سترګې یې په بې ساه کا لبوتونو نښلولې وې. سپین ږیري هغه کورته د تلو په نیت کشوله خو هغې د ژړا له بدرګې سره همدا ویل: زه مې ځوی دې سرې شپې ته یوازې نه شم پرېښودی.

۱۳۸۳- غبرګولی ۱۳، کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بهرنیو ځواکونو د راتګ، یوه شپه

د ۱۳۸۰ لمریز کال د ژمي سوړ موسم و ، امریکایي جنګي الوتکې په کا بل کې د افغانانو د خلا صون له پاره د اسې ترو ریستانو پسې ګرځېدې، تا به وې د فلسطین بېوسه خلک یې دا سرا یلو له بې رحمانه یر غلونو خلاص کړي او اوس د دوی نوبت دی.

موږ د درېیم مکروریان د ۲۳ بلاک په دویم پوړ کې او سېدوو. د بمونو لړزونکیو غږونو رانه خوب تښتولی و ، ټوله شپه مو په غمونو تېروله.

موږ سره په خونه کې یو عصبي ناروغ و. د هر بم له غږ سره یې چیغو نږدې ګاونډیان خبرول.

د شپې ۱۲ بجې شوې، ایله مو سترګې پټې شوې وې چې، بیا د الوتکې غږ شو او بیا شیبه وروسته یو زورور غږ بلاک وښوراوه، له دې سره سم د نا روغې له خولې وېرونکې چیغه ووته، ټو ل بدن یې په رپېدو شو ، وروسته یې سترګې ودرېدې، بې هوښه شوه او بیا ان تر سهاره ورته ټول حیران ا وپریشان نا ست وو.

۱۳۸۳ – وږی ۲۲

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عجيبه مخلوق

د شهزاده سراى مخ ته يو ماشوم چې د جنګ سوغات ( ماين ) ترې پښې اخيستي، په سينه پروت دى.

که څه هم د کابل ښار په دغه سراى کې په ميليونونو ډالر او نور اسعار لاس په لاس کېږي، خو د ماشوم په مخ کې په زړه غوړېدلي ټوټه يوائې يو څو افغانۍ پرتې دي .

ماشوم له سراى نه هر راوتونکي سړي ته چې بنډلونه يې په لاسونو کې دي ګوري، خو ده ته د چا پام نشته.

د ماشوم عمر روژې ته جوړ نه دى، خو دومره وړى ښکاري لکه ټول عمر چې روژه وي .

لغړ ماشوم د هغو کسانو ننداره هم کوي چې، د اختر لپاره يې خپلو بچيانو ته ښکلي او ښايسته رختونه اخيستي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غرمه په تېرېدو ده، خو دماشوم مخ ته یواځې نیمه سره ډوډی چې کوم سخي (!) به پرې لورولې وي ، پرته ده.

هغه فکر وړی دی او همدې فکر کې د جومات د ملا امام دعا ته غوږ دی.

اما م صاحب ، په دعا کې وایي: خدایه ! ته عادل پاچا یې زموږ په حال ورحمېږه.

په دې خبره ماشوم موسکی شو او شونډې یې وخوځېدې.

شاید د هغه له خولې راوتلي وي چې، عجیبه مخلوق دی؟ له خدایه عدالت غواړي خو خپله یې ورته شا کړې ده.

د ۱۳۸۲ لمریز کال د چنګاښ ۲۷ ـ مه

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هاوان

د هاوان توري شپیلۍ اسمان ته خوله وازه نیولې وه، دوه کسان ورته ولاړ وو.

یوه، پره داره ګولۍ ور خطا کړه او بیا دواړو ترې شاته منډې کړې او په غوږونو کې یې ټینګې ګوتې کېښودې.

ماویل: خدایه ! ستاهم عجیبه مخلوق دی، خپله یې غږ اورېدو ته نه دي تیار؛ خو د بل چا پرې کور ورانوي.

۱۳۸۲ لمریز کال ،د لړم ۱۲ - مه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لقمان رنځور شو

چې ځنګه موټر ته پورته شوم، په وروستۍ څوکۍ کې مې په یوه ماشوم نظر پرېوت. لکه چا چې یې له مخه رنګونه زبېښلي وي، سپېره و.

لکه پولیس؛ هره یوه ته به یې، جلا- جلا وکتل او بیا به یې تکیه وکړه او سترګې به یې په چټ ونښلولې.

د ماشوم خوا ته د هغه پلار هم ناست و، هغه غوښن او پرېړ سړی و، خو زنګانه نه لاندې یې پلاستیکي پښې وې.

زه له خپل زوی (احمد رشاد) سره له جلال اباده، د لغمان په لور روان وم. د الفت صاحب مزار ته مې لاسونه پورته کړل او چې ځنګه مې شاته وکتلې نو بیا مې پر هغه ماشوم پام شو.

د لاسونو ګوتې به یې یو بل کې ورکړې، دواړه لاسونه به یې پورته کړل، سپېرې او وچې متې به یې ښکاره شوې. له څوکۍ به معمولي پورته شو، بېرته به کېناست.

پلار یې په څوکۍ کې له ناستو کسانو سره مجلس شروع کړ، خبرې د همدې ماشوم په اړه وې.

زړه مې صبر نشو، یو کس سره مې خپل ځای بدل کړ او وروستي سیټ ته واوښتم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلار يې فضل الرحيم نومېده، د لغمان داليشنګ ولسوالۍ اوسېدونکی و او همدلته د عبدالله ابن مسعود په ښوونځي کې ښوونکی و.

هغه ويل چې، ۱۳۷۱ کال کې په ماين الوتی او دواړه پښې يې پرې شوي دي.

د ماشوم په لاس کې د درملو کڅوړه وه ، پلار يې ويل: د اعصابو ډاکټر ته مې راوستی و.

دولس کلن لقمان يو ناڅاپه د دوا کڅوړه وغورځوله او بيا يې وه ويل: زه دوا نه خورم، ما هم الوځوي.

فضل الرحيم خپل زوی په غېږ کې ونيو او بيا چې ويده شو ، نو کيسه يې پيل کړه:

لقمان، د خپل ورور له لاسه دې حال ته رسېدلی.

حيران شوم، په زړه کې مې له داسې ورور سره نفرت پيدا شو او د دې تنکي ماشوم د ټولو بدبختيو سبب مې همدا وګڼه.

فضل الرحيم کيسه وغځوله:

د لقمان مشر ورور محمد انيق دوه کاله وړاندې نهم صنف کې مکتب پرېښود او ايران ته لاړ، د تېر کال په دلوه کې رد مرز شو.

د ايران د تګ نه و ۱۸ کلن و ، خو مجبوري وه.

يوه مياشت به شوې وي، نن څوم تاريخ دی؟ يوه غږ کړ ، د ثور ۱۹مه.

فضل الرحيم شيبه غلی شو او بيا يې ويل: نه ، توبه خدايه ! مياشت نه ډېر وخت کېږي. د حمل ۲۳مه وه، زوی مې له خپل استاذ ( ويلډنګ کار ) او درې نورو مزدورانو سره د ننګرهار لعل پورې ولسوالۍ ته روان و چې، موټر يې په ماين والوت او ټول، ټوټه ـ ټوټه شول.

دې کليوالو ماسره ډېره ناځواني وکړه. د محمد انيق غوښې يې راوړې، خو ماته يې ونه ښودې.

خو لقمان ځان تابوت ته ورسو ، مانه خو دا هم ښه دی. د خپل ورور اخيري ديدن خو يې وکړ.

د فضل الرحيم سترګې ډنډ شوې، سلګيو پسې واخيست او بيا کوچنی لقمان هم راويښ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لقمان په سر مې لاس تېر کړ او ورته وه مې ويل: ګرانه ! مکتب ته ځئ؟

- هو شپږم کې يم. خو اوس مې درس نه زده کېږي. نور مکتب ته نه ځم.

-نه ، ته ډېر هوښيار هلک يې چې، دا دوا وخورې جوړ تيار به شې، بيا به دې سبق هم ښه زده شي.

د شپې خوب درځي ؟

- چې ويده شم ، لالا مې وينم، يو نا څاپه ډزشي، او بيا مې لالا ټوټه ـ ټوټه شي، وينې يې زما په مخ هم راولوېږي.

زه چيغه کړم، مور مې هم راويښه شي او بيا تر سهاره دواړه ويښ يوو.

د لقمان بيا سترګې سرې شوې، ژر-ژر يې ساه اخيستله، د دوا کڅوړه يې پلار ته ورکړه:

دوا نه خورم، ما هم الوځوي، زه مړ کېږم. پلار يې په غېږ کې ټينګ ونيو ، ټول رپېده او د دوا کڅوړه د دوه پلاستيکي پيښو په منځ کې پرته وه.

د ۱۳۹۰کال د غويي ۲۱مه ، جلال اباد

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مدافعان

د شپې نږدې اته بجې وې. کابل ښار کې لا هماغه شان ګڼه ګوڼه وه او هر موټر له بله د مخکې کېدو کوښښ کاوه .

ما سره په موټر کې د دفتر دوه بهرنیان هم ناست وو . موټر د باغ بالا پر سړک ورو-ورو روان و .

دلته د سړک تر دواړو غاړو کورونه هم موقعیت لري .

له یو-یو موټره د هارنډونو غږونه پورته کېدل. ناست امریکایی او انګریز یو بل ته وکتل او بیا یوه وویل :

عجیبه وطن دی. عجیبه خلک دي. په دې شپه کې هارنډونه کوي، څوک به ویده وي، څوک به ناروغه وي، د هیچا فکر ورسره نه شته .

(c) ketabton.com: The Digital Library



امريکايي غږ کړ: دا خو د بشر د حقونو نقض دی، که زموږ ملک کې دا کار څوک وکړي جريمه کېږي .

انګريز وويل: دلته د بشر د حقونو په غم کې څوک نه دي، هيڅوک د بل غم نه کوي .

په همدې وخت کې راډيو د اتو بجو خبرونه پيل کړل:

تېره نيمه شپه د ناټو هوايي ځواکونو په هلمند کې يو کور بمبار کړ.

نطاق زياته کړه: دغه کور چې د کلي په منځ کې و، ناټو پرې د ترهګرو د پټنځای شک کړی و، خو وروسته معلومه شوه چې، په وژل شويو کسانو کې ميرمنې او تنکي ماشومان هم شامل دي او...

په بدن مې يوه لړزه خپره شوه، اوار رپېدم، ناست بهرنيان راباندې پوه شول.

يوه وويل :

زموږ په خبرو خپه شوې؟ بد خو مو ونه ويل؟ ټول بشر يوو بايد د بشر درناوی وکړو .

ماوې: نه، رښتيا هم تاسو د بشر د حقونو مدافعان ياست !!

**۱۳۸۵** د تلې اوومه ، کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شعار

شعار

له مخامخ هوټل څخه د چک چکو غږونه راتلل، پر دېوالونو او دروازه يې د مارچ د اتمې ( د ښځو نړېواله ورځ ) په اړه؛ بيلابيل شعارونه لګېدلي وو. پر يوه لويه شنه ټوټه په سور رنګ ليکل شوي وو:(( پربېږدئ ! چې ښځې خپل حقونه خپله ترلاسه کړي.))

د هوټل مخې ته يوه ميرمن په زړو جامو کې ناسته وه، هغه ډېره عمر خوړلې نه وه؛ خو لاسونه يې داسې لړزېدل، لکه څو ورځې يې چې په مړه ګېډه ډوډۍ نه وي خوړلې.

د ميرمنې سترګې د هوټل په دروازه نښتې وې، شيبه وروسته رنګارنګ نجونې او ښځې چې غاړکۍ يې لمرته ځلېدلې را ووتلې. سوالګرې نه فقر جرئت وړی و، هوټل ته د ننوتلو زړه يې نه درلود. خو لکه چې په ليک پوهېده. چې څنګه يې په مخامخ ځړېدلي شعار ( پربېږدئ ! چې ښځې خپل حقونه خپله ترلاسه کړي.) سترګې خښې کړې، پورته شوه. غوښتل يې له خپلو همنوعو څخه د يوې مړۍ وچې ډوډۍ لپاره روپۍ وغواړي.

د ننوتلو هڅه يې وکړه خو دې سره بلنليک نه و، چا پرېنښوده، را وتلې ميرمنې بېرته د هوټل په سالون ننوتلې او دې هماغه شان له باندې لګېدلي شعار ته کتل.

۱۳۸۲، د کب ۹مه کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مبارزه

نن بیا څو خړ او ژېړ موټر، چې ماشینداري یې پر سرونو نصب وې او تر شا یې توري عینکې په سترګو کسان ولاړ وو، د هوایي ډګر په لور ګړندي را خوشې وو.

دوی ته،چې د ماشیندارو شپیلۍ یې اخوا دېخوا تاوولې او د لاسونو په اشارو یې نور موټر ځانته نږدې نه پرېښودل، د هوایي میدان دروازه له ورایه پرانیستل شوې وه. د پوځي موټرو په منځ کې امبولانسونه هم وو او پر سر یې سرې رڼاوې تاوېدلې.

موږ په دروازه کې د تالاشۍ دنده لرله، خو هغوی پرته له دې چې را وګوري، را ننوتل. امبولانسونو څخه، څو تابوتونه ښکته کړی شول خو لا الوتکه پرواز ته نه وه چمتو.

یوه پوځي کماندړ چې خړ رنګه برګ یونیفرم یې پرتن و او پر اوږه یې بیلابیل نښانونه ټومبلي وو، تابوتونو ته لاس ونیو او وه یې ویل:

دوی له نشه یي توکیو سره په مبارزه کې ځانونه قربان کړل، نشه یي توکي یوه ستره بلا ده، که له منځه لاړه نه شي نو بشر به له منځه یوسي. پر دغه پوځي افسر، مخابره کې غږوشو او له تابوته لرې شو، په خپله ژبه له چاسره غږېده او لاسونه یې خوځول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورې خبرې يې سمې نه اورېدل کېدې خو د نار کوتيک Narcotics (نشه يي توکي) کلمه يې ډېره تکراروله. زه هم تابوتونو ته فکر وړی وم، پر يوه تابوت په انګريزي نوم ليکل شوی و او له نوشتې يې داسې معلومېده چې دغه ځوان دې شل کلن وي.

زړه مې غټ کړ: ماويل ، دا هم ځوان دی راځه اخري ديدار يې وکړه. د تابوت سر مې ورو پرانيست، تابوت له ورو ځلور کونجه پاکټونو نه ډک و ، ژر مې بېرته پټ کړ ، وه ويرېدم، ماويل هڅې نه چې د نشه يي توکو د مبارزې د اسرارو د افشاء په جرم، دعدالت ميز ته کش شم.

۱۳۸۲کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ماشوم بې پلاره شو

ورکشاپ پوره ځپلی وم. د مرې تبې احساس مې کاوه، مازيګر چې څنګه د کونړ له ګرين هوټل نه راووتم ، قانع مې مخې ته راغی او د سالارو باغ د ليدلو بلنه يې راکړه.

عبيدالله قانع يو نری او لوړ زلمی دی. هغه په اسعد اباد کې د ښکلا راډيو مسوول دی. زه چې له پخوا راهيسې د خپلو سيمو د ليدلو تنده لرم، ورته هو مې کړه.

زه، زما ملګري فاضل ناګار او عمران واک، درې واړه د قانع کرولا ته پورته شوو.

سالار باغ د اسعد اباد- جلال آباد پرلويه لاره، د سيند په غاړه موقعيت لري. قانع موټر را تاوو کړ او ويل يې چې، دلته يې د تره کور دی.

موږ د حجرې په ځای د سيند غاړې ته ښکته شوو او بيا شيبه وروسته کوربه د شېدو چای له ډک پتنوس سره راغی.

سيند د دوه غرونو منځ کې روان دی، خو لکه چې د وطن له تندې خبر وي، مخکې تګ ته يې زړه نه کېږي، له ډېرې غوصې له غټو ډبرو سره سر ووهي ، تم شي خو چې ځوک يې په قدر نه پوهېږي او د پاتې کېدو ست ورته نه کوي نو بېرته په نه زړه حرکت وکړي.

مخامخ شين غر دی.او په لمن کې يې څو ډبرين کورونه ودان دي. شاته هم يو لوړ غر دی خو شين نه دی او پر سريې د بهرنيو ځواکونو پوسته پرته ده او بيرغ پرې رپېږي.

مخامخ کورونو ته مې لاس ونيوه او بيا مې ويل: خبر دی، غريب به وي خو چې داسې د شنه غره لمن کې د سيند په غاړه پراته دي، نو ښه به خوشحاله وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوربه چې شاکرالله نومېده ، خبره راپرې کړه: خوشحالي چېره ده ؟ همدا نن غرمه يو راکټ ولګېد . له دې خبرې سره مې لاسونه سست شول او پياله مې کېښوده.

هغه زياته کړه: د کورښتن په خپلو پټيو کې وابنه کول، چې راکټ يې خواته ولګېد او ځای په ځای شو.

شکرالله خبره اوږده کړه: د خدای رحم و چې، همدا شيبه يې، ماشوم زوی کورته تللی و او چې کله بېرته راغی نو پلار يې په ډنډ وينو کې پروت و.

راکټ ، د سالارو دغه ماشوم بې پلاره کړ او کورنۍ يې ورته د وير په ټغر کېنوله، خو د غره پر سر د بهرنيانو پر پوسته هماغه شا بيرغ رپېده.

کونړ ،اسعد اباد ، د سالارو بڼ

د وری۲يمه، ۱۳۹۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کندهاری

پر لوړه پوله بوډا يواځې ناست و. مخامخ نړېدلې ختينې کلا ته يې کتل. د کلا د لرګي لوی ور سوزېدلی و، خونې چپه پرتې وې او د کلا په منځ کې د سکرو تيتې ونې ولاړې وې.

بوډا يو ناڅاپه لړزې واخيست، پورته شو ، د کلا په لوري يې منډه کړه، کلا ته نږدې يې غبږ پرانيسته:

شکر ، تيټ شو تا به وې کوم ماشوم په سرښکلوي، لا سونه يې بېرته را ټول کړل، کړوپه ملايې سمه کړه، پر نړېدلو ديوالونو يې نظر وګرځاوه او بيا يې يو دم را منډه کړه.

ستړی شو، کېناست، ژوره – ژوره، ساه يې را وېستله او د ټنډې په ګونځو کې يې خولې تاوېدې را تاوېدې

پر اوږه مې ورته لاس کېښود:

بابا !

دومره په شوق کلا ته لاړې او بيا !؟

د هغه خوله وچه وه، غاړه کې وچه مری تله راتله ، ډنډ سترګې يې زما په سترګو ښخې کړې وې، او له ښو يې يوه – يوه اوښکه څڅېده .
يو دم يې خوله پرانيسته !

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته مې ګلالۍ - ګلالۍ لمسيان وو ، اولادونه مې وو.

سلګيو واخيست ، لړزې ونيو

ماکې هم د پوښتنې وس نه و ، غلی وم. کله مې مخامخ نړېدلې کلا او کله مې ترخوا ناست بوډا ته کتل.

يو ناڅاپه يې له زنګنو سر پورته کړ ، اسمان ته يې وکتل تا به وې اوس هم په هوا کې خپل قاتلان ويني. مخ يې سور شو ، سترګې په کولکونو کې راووتې ، هماغه شان يې پورته کتل او په خبرو يې پيل وکړ:

ځوانه !

په هغه ورځ يو نا څاپه، په هوا کې غړونه شول، څو الوتکې ښکاره شوې، تاوېدې را تاوېدې. درزهار شو ، تا به وې له اسمانه د سکروټو ډلۍ اورېږي

دا نړدې کلی وينې؟ څو طيارو پرې سينې خالي کړې او په لنبو کې ورک شو ، زه د ژړۍ ( د کندهار يوه ولسوالۍ ) بازار کې وم، چې کله را ورسېدم له کلي اورونه راتاو وو او غبار ـ غبار لمبې هوا ته پورته کېدې

په منډه راغلم د لنبو په منځ کې مې خپل ... له دې خبرې سره يې يو زوروره چيغه وکړه، زړه مې ډيپ ولويد ، بدن مې سست شو ، ماوې که په سر مې بم ولوېد.

سپين ږيري ډېر وس وکړ خو کيسه يې پوره نه کړه ، شونډې به يې بېرته کړې، و به رپېدې خو د خبرو په ځای به ترې چيغه ووته .
ښه شيبه دواړه غلي وو، بوډا بيا ځان خبرې ته جوړ کړ، مخ يې را واړو :
ځوانه !

ډېر وخت شو چې زه کلي ته نه ځم، چې کله ورشم د ماشومانو شور ماشور مې په ياد شي ، لمسيان مې په زړه را وګرځي،چې رامنډې به يې کړې او پښو نه به مې را تاوو شول.

اوس کلی غلی دی، هغه شور په کې نه شته ، اوس راته څوک د بابا نارې نه وهي زه اوس هلته نشم تلی ، زه بې څوکه شوی يم ، زويه !دې کاپرو په اخر عمر کې يوازې کړم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۳۸۲، کابل**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عجیبه قضاوت

دوه سپیان خوا په خوا په ځمکه خلم پراته وو. د پښو په منځ کې یې هډوکي نیولي او پرې خونېدل.

لږ وړاندې دوه ځوانان یو بل ته، سره - سره کېدل، له ښکنځلو خبره تېره شوه، لاس او ګریوان شول.

د دواړو له خولو او پزو وینې روانې شوې، خو لا ساړه شوي نه وو او هماغه شان یې یو پر بل باندې وارونه کول.

دربیم ګړی ترمنځ شو، په څه خوارۍ یې سره جلا کړل.

په قهر یې وویل: سپیان خو نه یې چې خپلو کې جنګونه کوئ؟

سپیانو یو بل ته وکتلې، سرونه یې وښورول شاید ویلي وي چې، انسانان هم عجیبه قضاوت کوي!!

کابل، ۱۳۸۲د لړم دوهمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خوسي سر

شاید لږه شېبه وړاندې به دغه سر د خوسي له تنې جلا شوی و ، خو سترګې یې هماغه شان پرانیستې وې.

څو کسان د قصابۍ هټۍ ته ولاړ وو ، قصاب په تېره چاړه د غوښې ټوټې جلا کولې او سر په پرانیستو سترګو د هر څه ننداره کوله.

حیران وم ، ما وې څنګه سر په چوپه خوله ، له ځانه د غوښود ټوټو د جلا کولو تماشا کوي؟

خلکو ته هم په فکر کې وم ، هغوی ټولو لېدل چې، سر ورته مړې سترګې ګوري خو دوی په ګېډو لاسونه وهي.

حیران وم ، شیبه وروسته مې یو نا اشنا غږ واورید ، ځانته مې پام شو خالي اسکلیت پاتې وم، څو چاړه په لاس کسان رانه راتاو دي او چړې یې زما په هډوکو خولې لګوي.

شاو خوا مې وکتل، خلک مې تماشا ته چوپه خوله ولاړ دي او په شونډو ژبې راکاږي.

۱۳۸۵ د زمري ۲۵ مه ، کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د آبادۍ وېره

جلرېز ولسوالۍ کې يوه واده ته بلل شوی وم. جلرېز د ميدان وردګ له ډېرو شنو او ښکليو ولسواليو څخه ده .

پخوا به د سړک دواړو غاړو باغونه سپېره وو، خو اوس تک شنه ښکاري او په شنو پاڼو کې ژېړو زردلو او سرو مڼو د باغونو ښکلا لا پسې زياته کړې ده .

پخوا دغه سړک خامه و، موټرو به د تګ راتګ په مهال دوړې جوړولې او بيا دغو ګردونو، سړک ته نږدې باغونه بدرنګه کول.

خو اوس سړک قير شوی دی، د سترګو په رپ کې له ميدان ښاره ور رسې، په دې سړک کې يوازې هغو ځايونو کې موټر ورو کېږي چې ماينونو الوځولي دي .

تېر مازيګر مې له کابل ښاره حرکت وکړ او لا ماښام شوی نه و، چې ور ورسېدم .

د واده ديګې د مڼو او زردلو په شنه باغ کې پخېدل او د ډوډۍ انتظام په يوه ختين کور کې شوی و.

ډوډۍ وخوړل شوه او بيا يو محلي سندر غاړي له خپلې ډلې سره چې ارمونيه، طبله، رباب او غټ لاوډ سپيکرونه ورسره وو، راغی .

دغې ډلې ته انګړ کې يو جلا ځای جوړ شوی و، دوه غټ ډايکونه ولګېدل او بيا، سندر غاړي تکراري سندرې پيل کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک ورته په کوټو ، انګړ او زينو کې ناست وو او چکې يې وهلې.

يو نيم به لکه کولنګی چرګ د سندرغاړي مخکې کوږ اوږ را تاوېده او نورو به پرې د لاسونو په تڼاکو ګټلي لوټونه شيندل .

په فضا کې د الوتکې غږ و ، شايد په همدې سيمه يې دورې کولې، ما ويل هسې نه همدا کور په نښه کړي او بيا مو سبا په جسدونو د ترهګرو نوم کېږدي .

دا يوه اند ېښنه وه، ځکه څو ځلې بهرنيو ځواکونو په ختيځ او سويل کې دغه شان مراسم بمبارد کړي دي .

ما يواځې د يوې سندرې نيمايي اورېدو ته حوصله وکړه، نور مې زړه په تنګ شو او له کوره ووتم .

د منهو باغ کې په غوړيدلي پلاستيکي سترنجۍ چې ځای – ځای، پرې وريژې پرتې وې، وغځېدم .

خوب نه راته، له يوې خوا بې خونده موسيقي غږېده او له بلې خوا باغ کې اشپزانو په لوښو وينځلو شور جوړ کړی و.

حيران وم څه وکړم ؟ زه لا همدې چورت کې وم چې د ماما زوی مې راغی، ويل يې راځه بازار ته ښکته شو او يوه يخه پيپسي درباندې وڅښم.

موبايل مې روښانه کړ په سکرين څه باندې لس بجې ښکاره شوې.

زړه او نا زړه روان شوم، د لمرينې برېښنا ځراغونو چې، په دنګو ستنو کې را ځړېدلي وو، د جلرېز بازار رڼا کړی و. دوکانونه تړل شوي وو ، يو نا ځاپه به ، دوه- درې سپيان په منډه له سړکه تېر شول. نور څه نه تر سترګو کېدل .

د بازار اخري برخې ته لاړو ، دلته يو لوی ماشين ولاړ و او همدلته قير سړک نور ختم شوی دی .

ماشين سره جوخت د سړک د غاړې په وياله کې يو وسلوال ګوته په ماشه ناست و. ځان سره مې ويل، چې که بېرته وګرځو شک و نه کړي، مخامخ پرې ورغلو .

وسلوال چې يونيفرم يې پر تن و ، له ويالې راپورته شو ، چې کله ورته بې ضرره ښکاره شوو نو له هماغه ځايه يې سترې مشي راکړل. دا پوليس د جلرېز ولسوالۍ د سنګلاخ او سېدونکی و .

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ویل دلته مو یوه پوسته ده. ما ویل نو ویاله کې څه کوې ؟ پولیس، د ټوپک شپیلۍ ماشین ته ونیوله : د همدغه ماشین د ساتلو لپاره شپه په وینه تېروو.

ما ویل: نو دا خو څوک پټولی نشي؟

هغه ځواب راکړ: پټولی یې نه شي، خو سوزوي یې، په راکټ یې ولي .

شیبه غلی شوم ، ځان سره مې ویل: کوم ملک کې چې د آبادۍ کارونه په دومره وېره تر سره کېږي، هغه به څنګه ودان شي ؟؟

۱۳۸۹،د زمري ۷مه ،

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# چرګان

چاړه په لاس ځوان، چې کالي يې په وينو ککړ وو او ځای- ځای پرې سپينې بڼکې نښتې وې، قفس ته لاس ونيو او بيا يې وويل: کوم يو دې په کار دی؟

يو چاغ چرګ مې په نښه کړ، ښه تنکی و او د سپينو بڼکو له منځه يې د شا، سره غوښه ښکارېدله.

هغه، لاس وردننه کړ، چرګان په وسپنيزې پنجره کې په ټوپونو شول او بيا د چرګانو قصاب په نښه کړی ترې راووېست.

اجل نيولی يې ځملاوه، په مرۍ يې ورته چاړه راتېره کړه، وينو دارې وکړې او د شاوخوا ځمکې سور رنګ يې بيا تازه کړ.

د چرګ ساه لا پوره ختلې نه وه، چې پوستکی يې ترې ووېست او بيا يې د لرګي پر يوه ګنډه (غټ لرګی) کېښود او ټوټه-ټوټه يې کړ.

نورو چرګانو هماغه شان ورکتلې.

ما ويل، اوس به يو شور جوړ شي، په پنجرې به هجوم راوړي او د ازادۍ لپاره به خپله وروستۍ هڅه وکړي.

خو داسې ونه شول، په چا چې راغله، په هغه راغله.

د چرګانو نسل مې له پامه بد شو، بې غيرته راته ښکاره شو.

ټوټه شوی چرګ مې په پلاستيکي کڅوړه کې لاس کې نيولی و او کور ته په لاره مې چورتونه وهل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چرګ څه بې غیرته نسل دی، ښه یې وینې، چې هره ورځ یې له پنجرې ملګري راوبستل کېږي او په مخ کې یې حلالېږي، خو دوی هېڅ نه کوي او خپل مرګ ته شېبې شماري.

دوی خو هسې هم ټول وژل کېږي، ولې یوه ورځ ځانونه، نه وژني؟ ترڅو راتلونکی نسل له دغو قصابانو وژغورل شي؟

د فکرونو لړۍ مې د امبولانسونو چیغو وشلوله، کلي کې خلک راټول وو، له امبولانسونو یې د دوو تنکیو ځوانانو تابوتونه راښکته کړل، ټولو حیرانې حیرانې ورکتلې.

زمونږ کلي ته یې څو ورځې وړاندې هم، غبرګې جنازې راوړې وې او خلکو ورته یواځې ژړلې.

۱۳۸۹،د لړم۱۱مه، ،کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خاموش کلی

ډېر عجيبه کلی دی، اوسېدونکي يې له شاوخوا ديرشو کلونو راهيسې چوپه خوله دي. دا کوچنی کلی نه دی، له ۱۰۰۰ ډېر کسان په کې ميشت دي، خو ټولو په يوه خوله د خبرو نه کولو سوګند کړی دی.

دا کلی د اسد اباد بازار له عمومي سړک نه څو ګامه لاندې موقعيت لري. اوسپنيزه دروازه ورته درېدلې ده او هيڅوک ترې باندې نه راوځي.

ملګرو!

ما د دې کلي په اړه ډېر پخوا اوريدلي وو، خو پرون مازيګر مې وليده، ډېر ځنډ يې د دروازې مخې ته ودرېدم خو چا سر را پورته نه کړ.

اوښکې مې تويې کړې، عذر او زارۍ مې وکړې خو دوی هيڅ را ونه کتل.

د دوی ضد له ماشومتوبه نه دی، ټول اوسېدونکي يې مخور او ځوانان دي، خو له خپلو همنوعو نفرت لري، دومره نفرت چې خواته تېرېدونکيو لارويو ته لا څه چې، مېلمنو ته هم نه ګوري او دغه ضد به تر اخره پالي.

د دوی ضد بېځايه نه دی، ولې به بېځايه وي؟

ملګرو!

تاسو به هم دې کلي ته فکر وړي ياست، نور مو انتظار نه اوږدوم او در معرفي کوم يې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د **۱۳۵۸** کال د وري **۳۱** مه وه، د يرغلګرو شورويانو لاسپوڅو، دغه کليوال په دې پلمه چې، حکومتي کسان درسره خبرې کوي راټول کړل او بيا يې پرې له هرې خوا دومره ګولۍ وچلولې چې د ټولو سينې يې سورۍ کړې.

دوی په خپلو ځايونو لکه اره شوي ننښتر ګډوډ پرېوتل، له سينو يې وينو دارې وکړې، شاوخوا ځمکه يې سره کړه.

د وينو فوارې جوړې شوې، خو څوک نه ورنږدې کېدل، ځکه يوازې مېرمنې او ماشومان پاتې وو، ځوانان او مشران ټول همدا وو.

دوی د کيرالې (کرهاله) اوسېدونکي وو، راتګ ته يې کوروالا په تمه وو، ورځ ختمه شوه، شپه شوه خو معلوم نشول، اخر خبر شول خو قاتلانو دومره وېره خپره کړې وه چې، چا يې غور ونشو کولی.

هملته پرې ماشينونو خاورې واړولې او په ابدي خوب ويده شول.

له هغه وخته څه باندې درې لسيزې تېرې شوې، په دغه دوره کې هغه کسان واک ته ورسېدل چې، دوی ورسره د ارتباط په شک وژل شوي وو، خو قاتلانو ته يې چا هيڅ ونه ويل.

د هغوی له قاتلانو سره يې ملګرتيا پيل کړه، خوا په خوا ورسره کېناستل او دادی اوس هم ورسره ملي شورا کې اوږه په اوږه ناست دي.

د جهاد په نوم نورې ډلې راغلې خو دوی هم د دغه کلي ټولوژونکيو ته څه ونه ويل. دا دی اوس هم د دوی جهاد روان دی خو قاتلان لا سرې سترګې ګرځي.

نو تاسو وواييئ؟ د دغه کلي ضد ببځايه دی؟ څنګه سرونه راپورته کړي؟ او څنګه خپلو همنوعو ته وګوري او؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟

خير دی، موږ له اوسنيو او پخوانيو مجاهدينو د دغه کلي د قاتلانو د نيولو هيله نه کوو، خو يوه غوښتنه ترې کوو او ورته وايو چې د خدای (ج) پار دی! نور کونړي ځوانان مه وژنئ، دا شين وطن په ځوانانو ښه ښکاري، نور په دې سيمه کې خاموش کلي مه جوړوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پربږدئ چي دلته همېشه د خلکو شور وي، د خندا ګانو غږونه راپورته شي، دا ژوند د خدای (ج) نعمت دی، دا نعمت بې موجبه له چا مه اخلئ.

پربږدئ چي د خاموشو کليوالو مينديې، په خپلو اولادونو د تللو مينه ماته کړي او نور يې سترګو کې اوښکې حلقې جوړې نه کړي، کنه دا اوښکې به يو سېلاب شي او دومره به زورور شي چې هر څه به په مخه کړي.

۱۳۸۹ کال وروستۍ شپه

کونړ-اسعد اباد ، د ښکلا راډيو ودانۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مشر وعده

په هغه ورځ ، که زما بدن سپر شوی نه وی، نو ګولۍ راساً د مشر په ځیګر خوله خښوله. غونډه ګډه وډه شوه، خو مشر زما خواته راغی مانه هماغه شان توده وینه روانه وه. ښه رانږدې شواو بیا له قهره سور واوښت:

زما دې په خپل جهاد قسم وي، چې یو وخت به همدغه شان د دې کمونستانو مشر په وینو لمبوم او ستا او د نورو مجاهدینو کسات به ترې اخلم.

څه موده پس ښه شوم، خو لاس مې بې دمه و ، د ټوپک ګرځولو وس مې نه درلود او د جهاد ارمان مې زړه کې ساته.

که څه هم وخت ډېر وتلی و ، حالات بدل و خو زما زړه کې هماغه شان د کسات جذبه ژوندۍ وه او د خپل جهادي مشر وعدې ته په تمه وم.

له څو ورځو راهیسې مې زړه کې تاوېده را تاوېده چې خپل مشر ته د جهاد د بریالیتوب مبارکۍ ته لاړ شم، نن مې وس پیدا کړ او سیده یې کاري خونې ته لاړم.

مخې ته مې راپورته شو ، د حال احوال پوښتنه یې وکړه. د مشر پر میز د ګلونو بې شمېره ګېډۍ ایښودل شوې وې.

موږ لا خبرو کې وو چې، یو تن په پوځي یونیفرم کې، چې د اوږو پر سرونو یې نښانونه ټومبلي وو او پر شونډو یې د بریتونو سرونه ځوړند وو راننوت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هک پک شوم، د خپل تېپي کېدو وخت را یاد شو او بیا مې د خپل مشر دا خبره : (( یو وخت به همدغه شان د دې کمونستانو مشر په وینو لمبوم ، ستا او د نورو مجاهدینو کسات... )) ذهن کې تله راتله.

ما ویل اوس به پرې لاس پورته کړي. خو هغه ته زموږ مشر توده غاړه ورکړه او بیا یې ماته هم دواړ لاسونه را اوږده کړل، زړه او نازړه وم ، یو لاس مې بې دمه و ، یواځې یو لاس مې ورکړ. زموږ مشر مخ را واړو : ښه دې ونه کړل، دا جنرال صاحب دی او دا سې کسانو ته یو لاس ورکول بې احترامي ده.

۱۳۸۷ ، کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شوقي خود کشي

تېره شپه مې، کابل کې له یوې ټلویزیوني شبکې څخه د حزب وحدت ګوند د وژل شوي مشر ، استاد عبدالعلي مزاري پخوانۍ څرګندونې واورېدې، ډېر ښه غږېده، په ملي وحدت یې ټینګار کاوه،د خلکو رایو او افکارو ته یې درناوی درلود.

پخوا مې هم د ځینو وژل شویو او ژوندیو تنظیمي مشرانو دغه شان ټلویزیوني کلیپونه لیدلي او ویناوې مې ورته اورېدلې دي.

له ډېر فکره وروسته اوس دې پایلې ته ورسېدم چې: تنظیمي مشران ډېره ښه خلک وو، کېدای شي د دوی د واکمنۍ په مهال (۷۱-۱۳۷۵) کابل ښار کې شاخوا ۲۰۰۰۰ ماشومانو، ځوانانو، بوډاګانو او میرمنو، په خپله خوښه او شوقي خود کشۍ کړې وي او کېدای شي کابل ښاریانو خپل کورونه په خپل زړه نړولي وي!!!!!!

۱۳۹۰، د کب ۱۷مه، کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زمونږ د کور کوترې

۱۳۶۲ لمریز کال و ، دا مهال د لغمان ولایت شنې درې وخت په وخت د شوروي جنګي الو تکو له خوا سرو لنبو په غېږ کې نیولې. زمونږ کلی ترې هم په امن پاتې نه شو.

سهار نهه بجې وې، له مخامخ غره، څو چور لکې لکه ورېي بازان راواوښتې او بیا یې څو ځلې له سکروټو ډکې سینې په کلي خالي کړې.

شیبه وروسته مونږ (۱۵) تنه په باغ کې له جوړې شوې موضع ( ځمځه ) نه داسې خړ پړ را ووتو چې یو بل مو نه پېژنده. ستوني مو له خاورو ډک وو. د خبرو وس مو بایلولی و و.

د باغ له شنو ونو، تورو لو ګیو سره یو ځای سرې لنبې پورته کېدې، ځای – ځای کورني حیوا نات او مرغان د خپلو وینو په ډنډ کې پراته وو ا وهرچاته یې په ډکو سترګو کتلې.

ختېن کورونه مو په لو ټو بدل شوي وو. زمونږ د انګړ د لرګیو غټ ور ،چې پر سر یې د کوترو ځالې وې په لنبو کې پټ و. شیبه وروسته تښتېدلې کوترې را ورسېدې، خپلو تنکیو بچیو پسې د اور منځ ته ننوتلې او مونږ لیدلې چې، څنګه ژر-ژر په ورتو غو ښو بد لیدې.

کابل

۱۳۸۳ چنګاښ ۲۰

# د ماشوم کرامت

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جلوزو کیمپ په فامیلیو کې میني بس ته وختم، دلته مې دعوت او جهاد پوهنتون کې زدکړې کولې. مهاجر بازار کې، ډله نور کسان هم را پورته شول.

له ما څخه پر وړاندې څوکۍ یو سړی له ماشوم سره کېناست. هغه له ماشوم سره ډېره مینه کوله، د خوړلو بیلابیل شیان یې ورته اخیستي وو. کله به یې یو شی خولې ته ور وړاندې کړ، کله بل. په سر او مخ به یې ښکل کړ.

حیران وم، په ځوانۍ کې مې په خپل یتیم والي اوښکې تویه کړې، د خپل پلار مینه را په زړه شوه. خو بیا مې ځان سره ویل: ډېر خلک پلرونه لري، خو هر یو یې دومره له خپلو ماشومانو سره چېره مینه کوي؟

زه لا د ماشوم او د هغه د پلار مینې ته فکر وړی وم، چې پېښور ښار ته را ورسېدو او نوې اډه کې موټر ودرېد.

چې څنګه دغه سړی او ماشوم ښکته شول، ورپسې جوخت ورښکته شوم: هغه له نږدې غرفې ماشوم ته جوس را واخیست او زه یې خواته ورغلم.

ترې وه مې پوښتل: ماما، دا ماشوم دې څه کېږي؟

-زوی مې دی.

-بس همدا یو زوی لرې؟

-نه، مال د خدای دی، نور هم شته

ځان سره مې ویل: کېدای شي تازه د ماشوم مور مړه شوې وي، نو ځکه ورسره دومره مینه کوي.

صبر مې ونشو، پوښتنه مې وکړه:

مېرمن دې ژوندۍ ده؟

-هو

-نو بیا ولې دې ماشوم ته دومره ناز ورکوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ دا عادي ماشوم نه دی، خدای ج ورته لوی کرامت ورکړی، که ترې خبر شوې، نو ته به يې له ما ډېر ونازوې.

ـکرامت او بيا په دومره واړه عمر کې؟

ـ هو، که نه يې مني نو رانږدې شه !

حيران وم، پلار د خپل ماشوم مخکې لمن پورته کړه، سپينه ډډه خېټه يې ښکاره شوه.

د خېټې ښي لورته لږ ځای لکه خدايي خال،تک شين و.

پلار، په همدې شين ځای ګوته کېښوده او بيا يې وويل: ښه وګوره!

ورځير شوم، د خدای ج قدرت و، له شين خدايي خال نه د افغانستان نخچه جوړه شوې وه.

سړي راته ويل: اوس خو يې منې؟ او بيا يې د افغانستان نخچه ښکل کړه او د زوی لمن يې بېرته راښکته کړه.

له هغه وخته شاوخوا دوه لسيزې تېرې شوې دي، خو چې اوس هم په هېواد کې چور او چپاول او له وطن سره روان خيانت ته ګورم، نو د ماشوم پلار مې په ياد شي.

ځان سره وايم:

ولس له وطن سره څومره مينه لرله، څومره قرباني يې ورکړه؟ خو مشرانو په دغه قربانيو څه بې شرمه سوداګري وکړه او لا دا سوداګري روانه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله خو مې په وطن روانه سوداګري دومره وه وېروي چې، یو نا څاپه لاسونه پورته کړم او دعا وکړم چې خدایه ! هغه ماشوم د وطن له سوداګرو په امن کې وساته، هسې نه له خیټې یې د افغانستان نخچه هم وتوکي .

۱۳۹۰، د غبرګولي ۲۰مه

جلال اباد

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د برکتونو میاشت

د ملي بانک مخ ته يوه سپين سرې ميرمن وچې شونډې کړو په ملا ناسته ده.د هغې ترشا بانک دی، چې په ميليونونه پانګه په کې ده او مخامخ يې کابل - سرينا هوټل دی چې، په لسګونو ډوله خواړه په کې تياربږي .

خو د ميرمنې مخ ته په وبږ پلاستيک يواځې څو افغانۍ پرتې دي او د هغې شونډې له ولږې سپېرې اوښتې دي .

د هغې څنګ ته وړه ماشومه ناسته ده، د سر ويښتان يې جړ بړ دي او له شلېدلي ګريوانه يې پښتۍ داسې ښکاري لکه ايکسرې عکس ته چې ګورې .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشومه ورېږي ده، لاسونه یې پر زنګنو ایښي دي، هر لاروي ته سترګې اړوي را اړوي، خو په دې د چا نظر نه پرېوځي . د مېرمنې مرۍ په خوارۍ ښکته پورته کېږي او له سپېرو شونډو یې د الله سپېڅلی نوم را پورته کېږي .

بوډۍ، هر را روان لاروي ترهغې څاري ،ترڅو یې له مخې تېر شي .

دوه جوړه سره او سپین کسان را روان دي او په غاړو کې یې پراته نیکټیان ټالۍ وهي .

هغوی په خپلو کې خبرې کوي، یو وایي :

رښتیا چې روژه د برکتونو میاشت وي، چې ماښام شي دسترخوان ډک شي، حیران پاتې یم چې اول څه ته لاس کړم ؟

میرمنې ، د دې خبرې په اورېدو خپلې ورې لمسۍ او بیا یې په مخ کې غوړولي پلاستیک ته چې ایله د یوې وچې ډوډۍ پیسې پرې پرتې وې، وکتلې او بیا یې سر پر زنګنو کېښود .

۱۳۸۲، د روژې ۱۲مه

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خشونت

د کابل – سرينا پر هوټل (د سيمينار محوه خشونت عليه زنان) شعارونه ځړېدلي وو .

د هوټل غولي کې لوکس موټر ولاړ وو، شيبه وروسته ډله ـ ډله، نجونې او ميرمنې چې، په غاړو کې يې طلايي زنځيرونه ځنګېدل را ووتې .

يوې چې، له غابنونو يې د کبابو پاتې شونې په وچکي راويستل، وويل: دغه شان سيمينارونه بايد نور هم جوړ شي، موږ ښځې بايد خپل حقونه وپېژنو او دفاع ترې وکړو، ترڅو به له موږ سره خشونت روان وي !؟

يوې بلې چې پرشونډو يې تازه لب سټک (لب سرين) راتېر کړی و، په احتياط شونډې ببرته کړې:

اوس نو هغه وخت تللی چې، ښځو ته به چا د انسان په سترګه نه کتل، حقونه به يې تر پښو لاندې وو، اوس ديمکراسي ده .

هغې لا خپله خبره پسې غځوله چې دوه ميندې يې مخ ته را تاوې شوې.

د يوې له غاړې د ماشوم وچ او چاودلي لاسونه راتاو وو او بلې خپله وړه ښپې يېبله لور چې، له يخنۍ تکه شنه اوښتې وه ، له لاسه نيولې وه .

يوې غږ کړ: خوېندو ماشومان مې له لوږې مري، بيمار دي، تاسو ته د يوې مور درد ښه معلومېږي د خدای په خاطر څه راکړئ !

له هوټله راوتلې يوې ميرمنې په قهر له غابنونو وچکی وغورځاوه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا تاسو د ښځو نوم بد کړی، دا وخت وګوره او ستا سليقه !

بلې غږ کړ: تاسو غوندې بې ذوقه ښځې چې وي، موږ به ښه خپل حقونه ترلاسه کړو ، خشونت به ښه ورک شي .

هغوی روانې شوې او سوالګرو ميندو تر ډېره د هغوی تورو دستکولونو ته کتل چې، په اوږو کې يې ټالۍ وهلې .

۱۳۸۲، ليندۍ۴مه

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سپی

لکۍ يې د دوارو پښو منځ کې نيولې وه، چنګه ملا کې يې له لرې پښتۍ شمارل کېدې. د غټو دېګيو خواته راغله. په شاتنيو پښو کېناسته ، اخوا د پخوا يې کتلې.

کله به يې ملا د پورته کېدو لپاره اوږده کړه، خو چې د خيرات ديګيو خواته ولاړ کسان به يې وليدل بېرته به غلې شوه.

لکه چې چا ورته نارې وهلې، شيبه په شيبه يې شاته کتل، خو دا غږ يوا ځې همدې اورېده.

دا ځلې يې ښه شيبه شاته وکتل او بيا کړه وړه را پورته شوه، سر يې ځوړند نيولی و، په لګن کې ډيرۍ غوښو ته را نږدې شوه. د يو تن ورپام شو، بېلچه يې پرې پورته کړه او بيا هغه شا په تخته ولوېده.

بيا يې سر پورته کړ او ورسره سم يې په تندې بله بېلچه وخوړه.

هلک ويل: دا ډېره بد سترګې سپۍ ده، څو ځلې مې وشړله بيا راغله، اجل يې راغلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ته چا غږ کړ او چې څنګه روان شو، سپی هم پورته شوه. کږه وږه روانه وه. مورې ماشومان ورپسې شوو.

سپی لوېده او پورته کېده، وينو ورپسې ليکه جوړوله، مخکې لاړه. د وچو وښو له منځه ورو –ورو غږونه راتلل.

مورې پښه ونيوله، سپی په ځنبېدو- ځنبېدو ځان ور ورساوه. غږونه لوړ شول. ور ورسېدو، له سپی تازه زېږېدلي کوکري را تاو وو، د هغې له خولې وينې خوټېدې، خو وړو بچيو يې په وچو تيونو کې شيدې لټولې.

۱۳۸۹، د چنګاښ ۲۲مه

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ماشومې ژړا

د يکشنبې سهار دی، د سورلۍ موټر مخکې سيټ کې ناست يم او لغمان ته د سفر نيت لرم. د همايون بلګرامي په ګوتو ليکل شوی تاريخي ناول ( لويه دسيسه ) چې ځوان ليکوال عارف الله حق پرست، پښتو ته ژباړلی، لولم.

ناول، د مغلو د امپراتورۍ د زوال کيسې کوي، او ښيي چې څنګه دغه لويه امپراتوري د خپل منځي شخړو، عياشۍ او د شهزادګانو کبر او غرور د تباهۍ کندې ته ټېل وهله؟

موټر له جلال اباد ښار نه په وتلو دی او دا دی له ژاندارم چې، په جندرما پول مشهور دی، هم تېر شو. يو ناڅاپه د ټايرونو غږ شو، سوی بوی پورته شو او بيا د يوې خوا ټايرونه خامې ته پرېوتل.

مخامخ يوه پيک آپ ډاټسن چې، په شنه سهار کې يې غبرګ ګروپونه لګولي را روانه ده، وسلوال په کې د ماشيندارو شاته ګوته په ماشه ولاړ دي او دومره تېزه راخوشې ده ته به وايې اوس به په تورخم واوړي او پاکستاني پوځ څخه به پر کونړ د شوو خونړيو بريدونو غچ واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورپسې يو تور نا اشنا موټرچې، خداى خبر، له څومره خيانته وروسته به يې قيمت پوره شوى وي؟ جوخت را روان دى.

په سپين رنګه پيک آپ کې، ماشيندارو ته ولاړ کسان خلکو ته لاسونه خوځوي او د قير سړک د خوشې کېدو داسې ګوابښونه ورته کوي، لکه سړک چې د همدوى په پيسو قير شوى وي .

ترڅو زمونږ موټر پوره قيرسړک پرېښوده، هغوى را ورسېدل، را جوخت شول او بيا شاته څوکۍ کې ښيښې ته ناستې ماشومې چيغې کړې.

مور يې ژر د هغې واړه لاسونه وکتل، لاسونه يې جوړ وو، خو د موټر هوا دومره وېرولې وه چې، ان تر مهترلامه يې ژړل.

مهترلام، اطلاعات او کلتور رياست

۱۳۹۰د زمري ۲۳مه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ايبټ آباد په غره کې

وينستان مې تازه وينځلي وو ، هنداري ته مخامخ ودرېدم چې څنګه مې د مخې وينستان شاته اړول هنداري ته ځېر شوم، يوه لړزه راباندې راغله، ځان مې کنټرول نشو کړای، ښکته مې وکتل، د مېز پر سر اخبار ايښې و ، د هغه پر يوه تصوير مې سترګې ولګېدې او بيا مې ځيرې- ځيرې کړې.

ځای پرځای کيناستم، په ټنډه مې لاسونه کېښودل او بيا مې ذهن نږدې يوه نيمه لسيزه شاته ولاړ :

دا مهال په دعوت او جهاد پوهنتون کې محصل وم، د دوبي رخصتۍ وې، خو زه له دوه نورو ملګرو سره ايبټ آباد ته مزدورۍ پسې لاړم.

په بازار کې ځو نور محصلين هم، حيران –حيران، د کار په تمه ولاړ وو .

يو نيم پاکستاني به راغی، خو موږ ورته د مزدورانو په څېر نه ښکارېدو ، نور کسان به يې بوتلل.

کار ته مزدوران شنه سهار کې درېږي او بيا چې ځوک پرې برابر نشي، نو بېرته نا اميده خپلو دېرو ته روان وي .

نن ترغرمې په چوک کې ولاړ وم، خو کار پيدا نه شو ، مازيګر بيا له خپلو ځو ملګرو سره چوک ته راغلم .

شيبه وروسته، يو سوزوکي موټر مو څنګ ته ودرېد او ځو کسان ترې ښکته شول .

يوه غږ کړ: کابليانو !غره کې کار کوئ !؟

له دې خبرې سره موټر ته ور وختو او بيا د غرونو منځ کې په يوه نرۍ لاره، يوې شنې تپې ته لاړو .

دلته نورو مزدورانو هم ځادرونه غوړولي وو ، دا ځای يوه پخوانۍ هديره وه، چې د پيپل ونو ګور ځانونه پرې راځوړند وو.

د قبرونو له شناختو دا سې ښکاريده، لکه نږدې يوه پېړۍ چې پرې اوښتې وي.

په دې تپه کې پرته له زړو قبرونو نور هيڅ نه وو ، يو- يو غټ ميږی به چټک –چټک اخوا دېخوا ګرځېده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ونو په ځينو ښاخونو کې غڼو جالې کړې وې، جالې له ماشو ډکې وې او غڼې به خپل ښکار ته ورو-ورو را روانې وې .

د قبرونو څنګ ته راټول وو ، شاوخوا کليوال به کورونو ته د تګ په مهال ځو شيبې و درېدل او بيا به ځوک د سر په خوځولو او ځوک په موسکا روان شول .

ماښام شو ، لرې کورونو کې رڼا ګانې ښکارېدې، خو مور په داسې يوه زړه هديره کې وو چې، مړي يې هېر شوي وو ، يوه ډيوه پرې هم نه بلېده .

سهار وختي، د غره په ډډه کې دوه –دوه کسان تقسيم شول. يوه سره به ګُلنګ او بل سره به بېلچه او واړه نيالګي وو ، چې بېخونه يې په تورو پلاستيکي کڅوړو کې پټ وو .

ما ګُلنګ باندې د کاڼو په منځ کې کندې ويستلې او بل ملګري به مې خاورې لرې کولې او نيالګی به يې کيناوه.

زما د لاسونو تناکې چاودلې وې، د ښي لاس پنجه مې د ګُلنګ لاستي سره سريخ شوه، د ګُلنګ لاستی باندې ژېړې اوبه روانې وې، زړه مې ور ان- وران کېده، خو مجبوره وم چې پردي غرونه اباد کړم، ځکه زمور په وطن کې اور بل و او تنظيمي مشرانو د کابل ښار پر ورانولو بوخت وو.

کله مې سترګو ته لوګی –لوګی کابل درېده، چې څنګه يې په ښايسته ماڼيو سرې مرمې خولې لګوي، څنګه يې له کورونو لوخړې پورته کېږي ؟؟ او کله مې خپل ځانته کتل، چې څنګه په تناکو لاسونو پردي غرونه ابادوم.

زړه مې را وپړسېد ، ګُلنګ مې ښه په زوره وواهه خو په تيږه ولګېده او بل سر يې زما په ټنډه خوله خښه کړه .

مغزو کې مې ټنګ شو ، په سترګو مې توره شپه شوه، دواړو لاسونه کې مې سرټينګ کړ، لاسونه مې تاوده شول او بيا چې مې څنګه لرې کړل نو د وينو شر، شو.

په غره کې هيڅ نه و ، خو بېخ کې يې يو شين ډنډ و ، چې د نږدې کليو څارويو به ترې اوبه څښلې.

ورمنډې مې کړې، وينې رانه هماغه شان بهېدې، تر ډېره مې ټنډې ته اوبه شيندلې خو وينه نه درېده، نور سست شوی وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه کې مې تنظيمي مشرانو ته د نفرت لنبه تاويده راتاوېده، ما ويل که دوی په خپلو منځو کې جوړ وای، ولې به کابل کې اور بل و، ولې به مونږ پردي غرونه ابادول؟ او ولې به... ؟؟؟؟

همدې چورتونو کې وم، لاسونه مې تاوده او بيا لانده شول، ماويل که بيا د ايبټ آباد په غره کې يم او بيا مې په ټنډه د ګُلنګ ځوکه ولګېده، خو خولې شوی وم، مخ مې وچ کړ او ځيرې کړې اخبار کې مې د تنظيمي مشر ټوټه ـ ټوټه عکس ته کتل.

۱۳۹۰-د زمري۲۰مه

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کسات

په ډېرې خوارۍ د قدم ايښودو ځاى لېدل کېده، يو اځې د توپان شور وو چې کله ـ کله به يې له لرې کليو څخه د سپيانو غرېونه هم را رسول.

باد ، د ونو لغړ خاښونه يو بل سره جنګول، کوچنی د سمال مې له سره تاو کړی و او يو اځې خپلې لارې ته مې کتل.

چې څنګه هد ېرې ته نږدې شوم، چيغې شوې، لکه هغوی چې ماته په تمه وو .

قبرونه وپرسېدل او بيا ترې جمجې راپورته شوې، حيران وم څه وکړم؟ د تېښتې هڅه مې وکړه خو پښې مې سستې وې، د ګام پورته کولو وس مې نه و .

له څلورو خواوو را نه اسکليټونه راتاو وو او نورو را منډې وهلې.

يو دم به ژامې وازې شوې، سپېره هډوکي به رانږدې شول، هر اسکليټ کوښښ کاوه چې لاسونه رانه راتاو کړي، غاښونه رابا ندې خښ کړي او يا مې له مرۍ ونيسي.

چا ويل: ولې دې ووژلو ؟ولې دې زموږ په ځوانيو سوداګري وکړه؟ ولې دې راته بچي يتيمان کړل ؟؟؟؟؟

چابه په کړس –کړس وخندل او بيابه يې سرونه ښه را نږدې کړل :

موږ وژل شوي نه يوو ، د تا په امر ژوندي خښ شوي وو او بيا به تېولو لاسونه را اوږده کړل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



خولې راباندې راماتې وې، ژبه مې وچه وه، د کلمې ويلو وس مې نه و، يوازې اسکليټونه مې ليدل چې راته نږدې ـ نږدې کېدل.

دا ځل بيا له څلورو خواوو راباندې هجوم راغی، سپېره هډوکې کړپېدل. يو ناڅاپه راباندې ونښتل او له همدې سره مې يوه زوروره چيغه وکړه او له کټه را پرېوتم:

ټول کوروالا رانه راتاو شول، د هغوی خبرې مې نه اورېدې، خو، له خولې مې بې اختياره همدا جمله را وتله: شکر چې رهبر نه يم!

۱۳۹۰، کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتنو سره یاد ګاري عکسونه واخلئ !

کارتن یې پرانیست. د پړانګ څلورو نویو زېږېدلو بچیو ترې غاړې را اوږدې کړې. دا د کوم بهرني ملک په یوه ژوبڼ کې له یوې مور څخه یو وار زیږېدلي وو.

ننداري ته یې غټ او واړه ولاړ وو ، د کېمرو فلشونو رڼاوې کولې او بیا ځینو کسانو ورسره په ډېرې لیوالتیا ګډ تصویرونه هم واخیستل .

د دې ټلویزیوني پروګرام چلونکي ویل چې، د یادو پړانګانو نسل د انقراض په حال کې دی او دا ډېره د اندېښنې خبره ده.

چینل مې بدل کړ، د خبرونو وخت و:

مسلسل د مرګونو خبرونه وو، انتحار شوی و، ماین الوتی و، له پاکستان او ایران نه راکټونه راغلي وو، بمبار شوی و. دا ټول د پښتنو په سیمو کې وو.

ځان سره مې ویل: موږ سره هم عکسونه واخلئ، زموږ نسل خو هم د انقراض په حال کې دی.

مهترلام

۱۳۹۰، تله ۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سپي ښښنه غوښته

د جيټ الوتکو ، له غرېونو سره سم په باغ کې په جوړه شوې ځمځه ورننوتو. جيټانو اول داسې ټيټې دورې پيل کړې لکه موږ پسې چې ځمځې ته راننوځي. وروسته بمبار شروع شو ، د هرېم په غورځېدو به ځمځه روښانه شوه، يوبل به مو وليدل او بيا به تپه تياره شوه.

په غورېونو مو لاسونه ټينګ ايښي وو ، خو چې کله به بم ولوېد ، دواړه لاسونه به مو له ډېرشدت نه له غورېونو لرې شول . له چت نه به خاورې را توېه شوې.

ښه ځنډ وروسته د الوتکو غرېونه ورک شول،په يو بل نارې وشوې چې ټولو ځوابونه ورکړل نو پوه شوو چې ژوندي يوو ، خو پوره خبرې مو نشوې کولی. خولې مو له خاورو ډکې وې، ستوني وچ وو او ژبو سم حرکت نه کاوه.

ځمځه د شنډ توت له غټې ونې لاندې جوړه شوې وه ، پربام يې نږدې- نږدې ښه غټ لرګي اچول شوي وو ، او بيا ښه درنه پوښل شوې وه.

د ننوتلو لپاره يې کوچنۍ سوری درلود ، دغه سوری په لوټو او ډبرو چې بمبار کې له ديوالونو جلا شوې وې، بند شوی و ، په ډېرې خوارۍ ترې راووتلو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویالې وچې وې. چرګان او هوایي مرغان ځای ـ ځای پراته وو. ځارویو پرې شکولې وو. له اخورونو لرې پراته وو.

یوه سخوندر څو ځلې غاړه جګه کړه ببرته یې کېښوده، هغه په ملا غټه پرچه خوړلې وه او شاخوا ځمکه یې په وینو سره وه.

د ونو شاخونه مات وو، ځای ـ ځای اورونه او لوګي پورته کېدل. باغ له تېرو اوسپنو( د بمونو پرچې ) ډک وو.

د اوبو په لټه کې وم. خپل کوچنۍ باغ ته لاړم. انګور تاکونه په ځمکه پراته او څنګ ته یې غځېدلې لښتې وچ و.

یو اواز مې واورېد، پښه مې ونیوله، شاو خوا مې وکتلې. سپي غاړه راجګه کړه و وېرېدم، ما ویل که بیا راباندې حمله کوي.

دا زموږ د تره سپی و ، له بمباره یوه شپه وړاندې یې سخت وېرولی وم او هغه وخت ترې خلاص شوم چې، چیغې مې کړې او مشران راورسېدل.

سپی بیا وسنګېد، خو پورته کېده نه. یو مات شوی ښاخ مې را واخیست او ورغلم. د هغه غبرګې پښې بېخ کې نه وې. سره غوښه وو. ژبه یې وچه وه او له خولې یې باندې راویستلې وه. لاسونه مې سست شول ښاخ رانه ولوېد.

ورنږدې شوم، هغه به خپل سر زما پر پښو و مښه او بیا به یې ډنډ سترګې راپورته کړې. په ناست غږ یې څه ویل، کیدای شي د ژوند په وروستیو شیبو کې یې رانه د پرونۍ حملې بښنه غوښتله.

له ما خپله تنده هېره شوه، له باغه ووتم، دهغه لپاره د اوبو موندلو په لټه کې شوم خو چې، کله بیا راتلم سپي سر اېښی و او ژبه یې د غاښونو منځ کې ټینګه پاتې وه.

دا د ۱۳۶۲ کال کیسه ده، هغه وخت زه ماشوم وم او له درې کاله جلا وطنۍ وروسته له هریپور کمپ څخه خپل کلي ته د مکتب په رخصتیو کې راغلی وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه بمبار کې زموږ کورونه ونړېدل، ډېر ښاروي له منځه لاړل، خو ماته اوس هم هماغه سپی یاد یږي. او دا سپی خو هغه وخت ډېر را یاد شي چې کله برناحقه د کوم انسان له وژنې خبر شم، ځان سره وایم:

لو یه خدایه ! ستا مخلوقات هم عجیبه دي. د ځینو انسانانو زړونه له ځناورو هم سخت دي. هغه ټپي سپي له یوه ماشوم ځنې، د تشې حملې بښنه غوښته، خو قاتلان نه یوائې دا چې له ناحقه قتل وروسته له خپل لوی ذات نه بښنه نه غواړي، د خپلو همنوعو وژنو ته په ډاډه زړه ادامه ورکوي او د قتلونو بازار هماغه شان تود دی.

۱۳۹۰د مرغومی ۲مه ،

مهترلام ښار

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مبارکي

کلی خاموش و ، په خالي کوڅو کې یې تش باد لګېده ، ډېر وګرځېدم ، هیڅوک مې پیدا نه کړل چې د اختر مبارکي ورکړم.

یو ناڅاپه مې مخامخ غونډۍ ته پام شو: ټول کلیوال هلته راغونډ شوي وو ، په منډه – منډه ورغلم.

د ( اختر مو مبارک شه ! ) جمله مې په لاره تکراروله ، ورورسېدم ، کلیوال مې ټول غلي وو ، په لوړ غږ مې مبارکي ورکړه ، خو هیچا هم ځواب را نه کړ.

په سترګو مې توره شپه شوه ، سر مې وګرځېد او ځای پرځای کېناستم.

یو وخت چې په خود شوم ، نو د قبرونو منځ کې ناست وم او د وژل شویو کلیوالو جنډې مې په سر رپېدې .

۱۳۸۷، د تلې ۸مه ، کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نیکه

نیکه !

ستا دعا قبلېدونکې وه، ستا د دعا برکت و چې، د کسي او سلیمان د غرونو په ډډو کې د پښتنو کېږدۍ پلنې شوې او له نغریو اورونه پورته شول .

نیکه !

تاسو په پوره عاجزۍ او اخلاص لوی دربار ته لاس ونیو او د زړه له تله مو وویل :

***دا وګړي ډېر کړې خدایه لویه خدایه لویه خدایه !***

نیکه!

د همدغې دعا برکت و چې، دغه وګړي ډېر شول، نورو سیمو ته وکوچېدل او سیمې پرې ښایسته شوې .

(c) ketabton.com: The Digital Library



نيکه !

خو ته خبر يې، ستا په لمسيانو اوس څه تېرېږي !؟

هغه لمسيان چې، ستا د دعا په برکت ډېر شوي وو ، اوس د نابودۍ خوا ته روان دي.

نيکه !

د کسي او سليمان غرونه ستا د لمسيانو په وينو ولمبېدل، د نغريو اورونه مړه دي، اوس د هغوی د کېږديو مراندي شلېدلي او يو ستر توپان يې هر څه په مخه کړي دي .

نيکه !

ستا لمسيان يو بل نه سرونه غوڅوي، اوس په هر ګام کې، ستا د لمسي جسد پروت دی او اوس د هر خوړ د اوبو رنګ ستا د لمسيانو وينو سور کړی دی .

نيکه!

اوس هغه سپين پټکي، چې سرونه به پرې ښايسته وو ، له زنو را تاو دي او اوس ...

نيکه !

ستا لمسيانو ته ( دا جهان قصاب خانه ) شو او هر لمسی دې، د ( قصاب په غولي پا بسته ولاړ دی )*

نيکه !

ستا نازولي لمسيان، د يو بل په وينو نه مړېږي، د نورو خو پښوا ورته زړونه ډک وو ، له هرې خوا پرې ناتاردی، مرګوني ګوزارونه دي او ...

نيکه !

زموږ لاسونه په وينو سره دي، موږ يې له شرمه د خدای پاک دربارته نشو پورته کولی، دعا مو نه قبلېږي .

نيکه !

(c) ketabton.com: The Digital Library



قيامت ته انتظار مه کوه ! ستا په لمسيانو همدا اوس قيامت دی، را پورته شه او بيا د يوې ونې ډډ ته تکيه وواهه، لاسونه پاک دربار ته پورته کړه او د زړه له تله ووايه :

***دا وګړي ډېر کړې خدايه ! لويه خدايه – لويه خدايه !***

نيکه !

هله ، ځنډ مه کوه ! ستالمسيان يو بې رحمه توپان په مخه کړي دي. که په دعا کې ځنډ وکړې د نسل لپاره به هم څوک پاتې نه شي او بيا به ستا دعا لکه ستا د لمسيانو برخليک په هوا کې ورکه شي .

د وږي ۲۲ مه ، ۱۳۸۲

* دا جهان قصابخانه کړ خدای وماته - پا بسته ولاړ په غولي د قصاب يم

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لراوبر په برېښنايي کتابتون کې پر لیکه اثار

- **اسلام او مذهب :**

- د روژې ډالۍ ډاکټر نثار احمد صمد
- روژه د رحمت، برکت او مغفرت میاشت مؤلف: مولوي سید محبوب شاه ساجد
- د اصحابانو کیسې مولوي عبدالهادي حماد
- د مصطلح الحدیث علم په سوال او ځواب کښې لیکونکی: شیخ مصطفی العدوی مترجم: محمد عمر بشار
- اړینه پوهه مولوي عبدالهادي حماد
- د برېښنايي کتابتون د اسلام او مذهب د برخې د نورو پر لیکه کتابونو لپاره دلته کلیک وکړئ !

- **ساینس او تخنیک :**

- د ړنا کړکۍ (د کمپیوټر زده کړه) عبدالستار فیضي
- سرطان او د چاپېریال رادیو اکټیویټي لیکوال: پوهنوال ډاکټر نظر محمد سلطانزی ځدراڼ
- د مایکروسافټ آفس پښتو لارښود عبدالستار فیضي
- غواړئ ذهني ځیرکتیا مو تمرین کړئ؟ ژباړن: مختار احمد احسان
- د ساینس او تخنیک د برخې د نورو پر لیکه کتابونو لپاره دلته کلیک وکړئ !

- **سپورټ او روغتیا :**

- هغه پیاوړي لاري چارې چې اندېښنه ستاسو له ژوند څخه محو کوي ژباړن: ډاکټر محمد رقیب (فاروقي وردګ)
- THE PREVALENCE OF HIV/AIDS IN AFGHANISTAN Dr.Hameed Shuja
- د کوچنیانو تنفسي سیستم لیکوال: پوهندوی دوکتور سید حسام مل
- د لراوبر ویبپاڼې د برېښنايي کتابتون د سپورټ او روغتیا د برخې د نورو پر لیکه آثارو لپاره دلته کلیک وکړئ !

- **هنر او ادبیات :**

- راځئ کیسه ولیکو نصیر احمد احمدي
- مناجاتونه نور احمد قرانمل
- د هیلو غوټۍ ویناواله: وحیده "آرینزی"
- د ابراهیم ادهم په پلونو (ناول) لیکوال: عبدالله الهام جمالزی
- منظومې کیسې پښتو لنډۍ او غاړې لیکوال: څارنوال احمد منګل خان

- **دماشومانو لپاره :**

- کوچنی شاهزاده (د ماشومانو لپاره) ډاکټر عبدالباري

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زما سوی (د ماشومانو لپاره) مختار احمد احسان
- فتېالر (د ماشومانو لپاره) مختار احمد احسان
- د برېښنايي کتابتون د هنر او ادبياتو د برخي د نورو پر ليکه آثارو لپاره دلته کليک وکړئ !

## • تاریخ او سیاست :

- روز شمار واقع افغانستان تهیه او ترتیب: حمید علمي
- شیرشاه سوري د افغانانو تر منځ د یووالي هڅونکې ژباړن: استاد قریب الرحمن سعید
- د ډیورنډ تړون د حقوقو او سیاست په تـــله کښې ليکوال: ډاکتر رحمت ربی زیرکیار
- د تاريخ او سیاست د برخي د نورو آثارو لپاره دلته کليک وکړئ !

## • بېلابېل آثار :

- خوندور خواږه عبدالستار فيضي
- د نړۍ اووه عجايبې ژباړن: مختار احمد احسان
- د بېلابېل آثارنو مي برخي د نورو پر ليکه کتابونو د لوست لپاره دلته کليک وکړئ !

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**